دافغانستان اسلامي جمهوريت

دلوړوزدکړووزارت

پکتیکا پوهنتون

اقتصادپوهنځي

# مالي محاسبه

# Financial Accountin

استاد : ف. شريف

کال: ۱۳۹۹

# Contents


لومړي فصل ..... 4
کتابوالي یاکتابت (Book-keeping) ..... 4
دکتابوالي مهمي ځانګړتیاوي (Essential features of Book-keeping) ..... 4
مالي محاسبه (Financial Accounting) ..... 5
محاسبي ته اړتیا ( Need to Accounting) ..... 6
دمحاسبي تعریف (Definition of Accounting) ..... 6
دمحاسبي ځانګړتیاوي ( Essential Aspects or features of Accounting) ..... 7
تشخیصول (identifying) ..... 8
دمحاسبي مرحلي (stages of Accounting) ..... 9
دکتابوالی اومحاسبي ترمنځ توپیر ..... 10
دمحاسبي اهداف (objectives of Accounting) ..... 11
دمحاسبي دندي یاوظایف (Function of Accounting) ..... 12
له محاسبي څخه استفاده اوګټي (uses,Advantages or Role oF Accounting) ..... 13
دمحاسبي محدودیتونه (Limitations of Accounting) ..... 14
دمحاسبي ماهیت اوجوړښت (Nature and structure of Accounting) ..... 15
دمحاسبي څانګي (Branches of Accounting) ..... 15
مالي محاسبه (Financial Accounting) ..... 15
دمصارفومحاسبه (cost Accounting) ..... 15
اداري یامدیریتي محاسبه (managerial Accounting) ..... 16
دکتابوالي اومحاسبي سیستمونه (systems of Book-keeping and Accounting) ..... 16
نغدی یاتجارتي سیستم (cash and mercantile system) ..... 16
یواړخیزه سیستم (single Entry system) ..... 17
دوه اړخیزه سیستم (Double Entry system) ..... 17
دوهم فصل ..... 18
دمحاسبي اساسي اصطلاحات (Basic Terms of accounting) ..... 18
پانګه ( capital) ..... 18
شتمني (Assets) ..... 18
پورونه (liabilities) ..... 19
معامله : Transaction ..... 22
دمعاملي ځانګړتیاوي ..... 23
دمعاملودولونه : ..... 23
پیښه یاواقعه :Event ..... 23
دمعاملي اوواقعي ترمنځ فرق ..... 24

حساب (Account ) ........................................................................................................ 24
دحسابونوطبقه بندي ........................................................................................................ 25
دريم فصل ........................................................................................................ 27
دډيبټ اوکريډيټ قوانين :Rules of Debit and Credit ........................................................................................................ 27
1- دشتمنيوحساب : (Assets account) ........................................................................................................ 27
ددوه طرفه ثبت سيستم : (Double Entry system) ........................................................................................................ 29
ددوه طرفه يامضاعف سيستم خصوصيات ........................................................................................................ 29
ددوه طرفه يامضاعف سيستم ګټي ........................................................................................................ 29
محاسبوي مساوات يااساسي معادله (Accounting Equation) ........................................................................................................ 30
دمحاسبه کولوطريقي : ........................................................................................................ 30
څلورم فصل ........................................................................................................ 33
دکاروبارکتابونه ........................................................................................................ 33
دکاروباراصلي کتاب ژونال (journal) ........................................................................................................ 33
دکاروبارکومکي کتابونه ........................................................................................................ 34
په ژونال کي ثبتونوطرزالعمل ........................................................................................................ 34
مرکب معاملات ........................................................................................................ 40
تخفيف (Discount) ........................................................................................................ 42
تجارتي تخفيف (Trade Discount ) ........................................................................................................ 42
نقده تخفيف ( Cash Discount ) ........................................................................................................ 44
خاص معاملات (Special Transactions) ........................................................................................................ 45
ليجر(Leger) ........................................................................................................ 48
دليجرګټي ........................................................................................................ 49
دليجرمستقيمي ګټي ........................................................................................................ 49
دليجرغيرمستقيمي ګټي ........................................................................................................ 49
دليجرويشنه ........................................................................................................ 49
دليجرشکل ........................................................................................................ 50
په ليجرکي دثبتوني طريقه ........................................................................................................ 51
دليجرحساب توازن ........................................................................................................ 52
دژورنال اوليجراماده کونه ........................................................................................................ 53
پنځم فصل ........................................................................................................ 61
( ازمايښتي بيلا نس ) ........................................................................................................ 61
دازمايښتي بيلانس ځانګړني ........................................................................................................ 62
د ازمايښتي بيلانس ګټي ........................................................................................................ 62
دازمايښتي بيلانس دجوړوني طريقي ........................................................................................................ 63

شپږم فصل ........ 106
د مالي بیانونو مفهوم (Meaning of Financial Statements ) ........ 106
دنهايي حسابونو دجوړولو اهداف ........ 106
دنهايي حسابونو وړاندي کول ........ 107
عایداتي مصارف او سرمایوي مصارف ........ 110
عایداتي مصارف ( Revenue expenditure ) ........ 111
عایداتي رسیدات ( Revenue receipts ) ........ 112
سرمایوي مصارف ( capital expenditure ) ........ 112
دتجارتي حساب مفهوم ........ 116
د تجارتي حساب د ( کریډیټ طرف ) اصلي عناصر: ........ 117
د ګټي او تاوان حساب ( ډبټ طرف ) عناصر ........ 125
د ګټي او تاوان حساب ( کریډیټ طرف ) عناصر ........ 127
د ګټي او تاوان حساب اړوند عناصرو تشریحي مطالعه : ........ 129
د ګټی او تاوان حساب مهموالی ، ګټی او اهداف ........ 144
اووم فصل ........ 146
توازن پانه ........ 146
دارایي (Assets) ........ 148
مسؤلیتونه (Liabilities) ........ 149
پانګه (Equity) ........ 149
اخځلیکونه ........ 150

# لومړي فصل

## کتابوالي یاکتابت (Book-keeping)

دمالي محاسبې ترشروع دمخه لومړی مهمه ده چي دمالي محاسبی په مبداباندي وپوهیږو.کتابوالي دمحاسبی پیل ده اوپدي لاره کي لومړني ګام بلل کیږي دکتابوالي په هکله علماومختلف نظریات وړاندي کړیدي چي دهغی جملي څخه دیوشمیریي په لاندي ډول دي .

دA.H.Rosenkemff په ویناکتابوالي په قانوني توګه دتجارتي معاملاتودثبتولو هنرته وايي .

دNorthcot له نظره :دحساب په کتابونوکي دپیسوپه ارزښت دتجارتي اومالي معاملاتودثبتوني هنرته کتابوالي وايي

دj.R.Batliboi له نظره :دکتابوالي هغه علم اوهنردی چي تجارتي معاملات ترمناسبوحسابونولاندي ثبتوي

دL.c.cropperله نظره: دکتابوالي علم په داسي ډول دپیسوپه ذریعه دترسره شویومعاملاتوثبت کوي. چي په راتلونکي وخت کي یي خاصیت اوپرمعاملاتوباندي اغیزي واضح اودپوهیدووړوي اوداړتیاپرمهال یي له نتایجومالي بیان جوړیدای شي .

له پورتنیوتعریفونوڅخه څرګندیږي چي کتابوالي دتجارتي معاملاتودثبتونوهغه پروسه ده چي دحساب په کتابونوکي په اصولوي توګه ترمناسبوحسابونولاندي تبتوني کوي اوله دي ثبتونوڅخه لاسته راغلي پایلي دکټي اوتاوان حساب اودسوداګري مالي بیان جوړیدل یقیني کوي په بل عبارت کتابوالي دمحاسبي داصولوسره سم دحساب په کتابونوکي دتجارتي معاملاتوثبتولوته وايي

## دکتابوالي مهمي ځانګړتیاوي (Essential features of Book-keeping)

1. کتابوالي دیوه کاروبارهغه فعالیتونه ثبتوي چي له اشخاصواونوروسوداګروسره په پیسوترسره سوي وي اویاهم له یوه کس څخه بل ته دپیسوداسي انتقال رامنځ ته سوي وي چي دسوداګري پرمالي حالت باندی اغیزه کوي
2. کتابوالي یواځي دیوه تجارت مالي (دپیسوپه ارزښت)ترسره سوي معاملات ترپوښښ لاندي نیسي .
3. کتابوالي دسوداګری تجارتي معاملات دپیسوپه ارزښت ثبتوي .

4. کتابوالي دسوداګري معاملات دکتابونوپه یوستځ کې چې دحساب کتابونه یې بولي ثبتوي
5. کتابوالي دسوداګري معاملات دمخاسبي له قوانینوسره سم په اصولي توګه ثبتوي
6. دکتابوالي ثبت سوي معلومات بایددمالي کال په اوږدوکي په هره نیټه ترسره سوي معاملات څرګندکړی اوبایددکتي اوتاوان حساب دمعلومولواومالي بیان دترتیبولولپاره په لیکلي بڼه موجودوي .

## مالي محاسبه (Financial Accounting)

مالي محاسبه چي په عامیانه اصطلاح  یي حساب اوکتابوالي یوه ډیره لرغوني پوهه اوهنردی داهنردبشریت په تاریخ کي تقریبآدومره لرغوني دی لکه څومره چي پیسي اوراکړه ورکړه لرغونتوب لري محاسبي ته دتجارت ژبه هم وايي چي دتجارتي معاملاتودورځنیوپیښوله حصولي ثبت څخه عبارت ده هغه معلومات چي دیوي اداري دمالي چاروبشپړتصویروړاندي کوی محاسبه ورته ویل کیږي په عمومي توګه ویلای شوچي محاسبه دپیسوپه قیمت دراکړي ورکړي اوخدماتوثبت ته وايي .

دتجارتي معاملاتومحاسبه له ډیرپخواڅخه په دودیزه طریقه کیده چي کومه ځاانګري تګلاره یااصول یي نه درلودل دکوچینیومعاملاتودوکانداران اوس هم پرهم هغه دودیزه طریقه خپل حسابونه ثبتوي داچي په دودیزسیستم کي ځانګړي تګلاره نسته نوویلای شوچي دیوه اوبل دوکانداردثبت طریقه هم تقریبآ سره جلادي اوله اړونده کاروبارڅخه دباندي کسان یي په پوهیدلوکي له مشکلاتوسره مخامخ کیږي .په پینځلسمه میلادي پیړي کي ایتالوتجاردمحاسبي Pacioli دمحاسبي دیوی نوي طریقي بنسټ کینبود.چي عصري محاسبه یي بولي خودوخت په تیریدوسره دسوداګري ساحه په نړیواله سطحه نوره هم پراخه شوه دشلمي پیړي په کلنوکي دمحاسبی دمحاسبي دهنرزدکړه ډیره مهمه وبلل شوه اوله ریاضیاتوڅخه دیوجلامضمون په توګه په عملي موسیساتوکي په جدیت سره شروع شوه عصري طریقي ته دارتیاپرمهال کرارکرار اصول اومعیارونه وضع شول چي پدي برخه کي American institute of certified Public Accounts مهم اودپام وړکارکړیدی دمحاسبي په عصري طریقه کي معاملات په اصولي توګه ثبت کیږي چي ددي طریقي ټول کارکونکي دااصول اومعیارونه په پام کي نیسي ،نن سبادنړي ټول تجارتي موسسات ،بانکونه ،تولیدي فابریکي ،مخابراتي ، ټرانسپورټي،روغتیاي،دولتي اوغیري دولتي اداري له همدي عصری طریقي څخه استفاده کوي .

## محاسبي ته اړتيا ( Need to Accounting)

دپېنتوژبي دمتل (دوه وروڼه دريم حساب) په اصل کې موږته دمحاسبي داړتياارزښت راښي اوپردي ټينګارکوي چي دژوندپه ټولوچاروکي حساب اوکتاب ته اړتياموجوده ده مالي محاسبه زموږد شخصي لګښتونو څخه نيولي بياترکوچنيودوکاندارياواوغټوتجارتي کاروباروپوري دوږځنيوچاروپه هره برخه کي شامله اوورته ضرورت دی ټول سوداګريزشرکتونه،حکومتي اداري اوياغيرحکومتي اداري چي دپيسوپه ارزښت داموالوراکړه ورکړي اوخدماتوله وړاندي کولوسره سروکارلري حساب اوکتاب ته خامخامراجعه کوي حساب په تيره هغواداروته ډيرمهم دی چي هدف يي دپيسوګټل وي ځکه بغيرله حساب څخه دپيسوګټل امکان نلري دهري سوداګري لومړني هدف ګټه ده همداعلت دی چي دوکانداران،اشخاص،سوداګريزی اوحکومتي اداري دخپل ورځني کاروبارعايداولګښتونه دجنجالونواوتيروتنودمخنيوي په خاطرسندورسره ثبتوي ځکه هرشخص اواداره چي په پيسواموال تبادله کوي اوياخلګوته خدمات وړاندي کوي بايدپدي وپوهيږي چي په ورځني کاروبارکي يي څه روان دي دوي بايدخپلي عايداتي سرچيني اومصارف وپيژني په ګټه اوتاوان يي ځان خبرکړي دګټي اوتاوان معلومول اودهغوی تحليل يوازي هغه وخت امکان لري چي له شخص يااداري سره دخپلولګښتونواوعوايدومعلومات موجودوي اوداټول معلومات دمالي محاسبي پواسطه چمتوکيدای شي .

هغه اداری چي هدف يي دپيسوګټل نه وي لکه خيريه مؤسسات اويادحکومت په بوديجه رواني خدماتي اداري هم دخپلوکلنيوراپوروټودپاره محاسبی ته اړتيالري ځکه دوی بايدپدی وپوهيږي چي اياپه لاس کی موجوده بوديجه اوعايدات يي داينده مصارفوپوره کيدوجوګه دي که خبره رالنده کړونوچيرې چي دپيسولګښت ياله اموالواواجناسوسره دپيسوتبادله رامنځ ته کيږي هلته مالي محاسبي ته اړتياسته .

## دمحاسبي تعريف (Definition of Accounting)

دمحاسبي دپاره تراوسه پوري دنوري علوموپشان داسي يوتعريف وجودنلري چي ټولوته دي دمنلووړوي هرعالم دخپل فکردزاويي څخه ورته کتلي اوتعريف يي ورته جوړکړيدي

American institute of certified Public Accounts محاسبه داسي تعريفوي محاسبه هغه هنردی چي په ورځني معاملاتوکي دماليی خاصيت لرونکو،دپيسودقيمت لرونکوپيښودثبتولو،طبقه بندی کولواوخلاصه کولوله پاره کارول کيږي

دمحاسبي اکثره مروج تعريفونه امريکايي پوهانواوعلمي موسساتوجوړکړيدی ځکه داهيوادپه کلتوري اواقتصادي مسايلوکي دتعريفونوپراخه مخينه لري دمحاسبي هرنوي تعريف

ترمخکنیوتعریفونوپراخه مفهوم لرى ځيني خوان محاسبه تردي اندازى پراخه وي چي يوائخي
ترمالي ارزښت لرونکوشيانوپوري محدوده نه پاتيږى .

دAmerican Accounting Association په 1966کال کي دمحاسبي لپاره داسی تعريف وړاندي
کړيدى.

محاسبه داقتصادي معلوماتودتشخيصولو،اندازه کولواوپيښوته دارتباط ورکوپروسه ده چي ددي
معلوماتوکارونکوته دتصميم نيولواوقضاوت کولوزمينه برابروى .

درابرت اين انتوني له نظره :محاسبه دمعلوماتودراتولولوهغه منبع ده چي پراساس يی ديوه تجارت
مالي چارى خلاصه کيږي تحليل اوراپوررخخه جوړيږي

سمت اواشبرن وايي :په اصولي توګه دهغوتجارتي معاملاتوچي په پيسوترسره کيږي ثبتولو،يوځای
کولو،دمالي راپوروندجوړولو،دتحليلولواودمدريت دلارښوونواوتصميم نيولوپه خاطرددى
معلوماتووړاندي کولوته محاسبه وايي .

له پورتنيوتعريفونوڅخه داسي نتيجه اخلو

1. محاسبه يوازي هغه پيښي اومعاملات ثبت کوي چي دپيسوارزښت ولري
2. معاملات بايدتړواقيع کيدووروسته دستي په روزنام چه يافرعي کتابونوکي ثبت شي
3. په روزنامچه اوفرعي کتابونوکي ترثبت وروسته طبقه بندي کيږي .دلته هره معامله په خپل مناسب حساب کي ثبت کيږي چي ليجريي بولي داپه محاسبه کي دثبتونواخري کتاب دي
4. په ليجرکي دپيښوثبت بايدلوستونکي دپيښي په تول اهميت باندي وپوهوي مطلب داچي پيښي بايدداسی ګروپ بندي سوي وي چي هره برخه يي دتحليل اوخلاصی وړوي
5. دمالي کال په پای کي تولي ثبتوني خلاصه کيږي دلته دليجراله معلوماتوڅخه دمالي بيان دچمتوکولوپه خاطردکتي اوتاوان حساب اوتوازن پاڼه جوړيږي

## دمحاسبی ځانګړتياوي (Essential Aspects or features of Accounting )

که دمحاسبي تعريفونوته پوره پاملرنه وشي مهمي ځانګړتياوي يي له تعريفونوڅخه معلوميږي چي په
لاندي ډول دي

### تشخیصول (identifying)

دمعاملاتوتشخیصول دمحاسبي يوه مهمه ځانګړتیادهله تشخیصولوڅخه مطلب دتجارتي معاملاتوپیژندل دي چي پراساس يي مهمي يعني دثبت وړاونامهمي پيښني چي دثبت وړنه وي سره جلاکيږي اوپه کتابونوکي دثبت په هکله يي فيصله کيږي

### 2- اندازه کول (Measuring )

دتجارتي معاملاتواندازه دپیسوپه ارزښت واضح کوی هغه معامله چي په پيسونه وي ترسره شوي له پامه يئ غورځوی محاسبه يوازي هغه پيښني اومعاملات ثبتوي چي پيسوي ارزښت لری غيري مالي خاصيت لرونکي يابي ارزښته پيښي نه ثبتوي

### 3- ثبتول ( Recording )

په اصلي بڼه دمعاملاتوسمدستي ثبتول دمحاسبی يوه بله ځانګړتیاده په محاسبه کي ثبتوني ترپيښيدووروسته په تاريخواره بڼه يايه رزونامچه کي اوياهم په فرعي کتابونوکي ترسره کيږي

### 4- طبقه بندي کول ( Classifying )

محاسبه معاملاتوطبقه بندي کوي يعني پيش شوي تجارتي معاملات سره بيلوي له روزنامچي اوفرعي کتابونوڅخه يي راباسي اوپه ليجرکي يي ترمناسبوسرليکنولاندي ثبتوي يايه بل عبارت دروزنامچي اوفرعي کتابونومعلومات په ليجرکي تراړوندحسابونولاندي جلاجلاليکي تجارتی معاملات په روزنامچه اوفرعي کتابونوکی ترثبت ورروسته طبقه بندي کوي دلته هره معامله په خپل مناسب حساب کي ثبت کيږي چي ليجريي بولی

### 5- خلاصه کول ( summarizing )

محاسبه دمالي کال په پای کي تولی ثبتوني خلاصه کوي دلته دليجرله معلوماتوڅخه مالي بيان دچمتوکولوپه خاطردکتي اوتاوان حساب اوتوازن پانه جوړوي داکاردمالي کال په پای کي دمالی بيان دجوړولوپه موخه ترسره کيږي چی دسوداګري دعوايدواومصارفوپه هکله اويادکتي اوتاوان په هکله معلومات ورکوي

### 6- تحليلول اوتعبيرول ( Analysis and interpretation )

تحليلول اوتعبيرول يعني له ترتيب شوي مالي بيان څخه نتيجه اخلي په مناسبه اومعنی داره توګه دتجارت دبريالي توب ،دسوداګری دبنه دوام اوشتمنيوتصويرجوړوي اودسوداګري داينده په هکله منظرکښي ته لاره هواره وي

## 7- ارتباط ورکول (Communicating)

په مالي بیان کي وړاندي سوي نتایج اړونده استفاده کوونکوته وړاندي کوي چي دسوداګري هکله غوره تصامیم ونیسی دلته دارتباط ورکولوڅخه مطلب استفاده کوونکوته دمالي بیان دنتایجووړاندي کول دی دسوداګري مالي بیان چي ترتیب شي دبریالیتوب دوام اوشتمنیوپه باب یي نتیجه واخیستل شي اودراتلونکي په هکله یي منظرکشي وشي وروسته داټول اسناددسوداګري ونډوالواوکارکونکوته وړاندي کیږي هغوي یي نتیجه ګوری اودسوداګري په هکله وروستي پریکړه کوي

## دمحاسبي مرحلي (stages of Accounting)

دمحاسبي په ځانګړتیاودپوهیدووروسته په ډیري اساني سره کولای شوچي دمحاسبي مراحل په لاندی توګه لیسټ کړو.

1- دمالي معاملي دپیژندلومرحله : په لومړي مرحله کي بایدپیبني اومعاملات وپیژندل سي هغه معاملات اوپیبني چي دپیسوارزښت لري ثبتیږي اوهغه چي غیرمالي خاصیت لري یابي ارزښته وی نه ثبت کیږي

2- دمالي معاملي دثبتولومرحله : په دي مرحله کي معاملات تړواقع کیدووروسته سمدستي یاپه روزنامچه کي اویاپه فرعي کتابونوکي ثبت کیږي

3- دمعاملاتودطبقه بندي کولومرحله : دلته په روزنامچه اوفرعي کتابونوکي دراغلیوثبتونوطبقه بندي کیږي هره معامله په خپل مناسب حساب کي ثبت کیږي چي لیجریي بولي داپه محاسبه کي دثبتوني اخری کتاب دی دمثال په توګه په نغدوترسره شوي معاملات بایدټول ترنغدی حساب لاندي اورانیول شوي شیان ټول بایددرانیوني ترحساب لاندي ولیکل شي په لیجرکي دپیښوثبت بایدکتونکي دپیښي په ټول اهمیت باندي وپوهوي مطلب داچي پیښي بایدداسي ګروپ بندي شوي وي چي هره برخه یي دتحلیل اوخلاصي وړوي

4- دمعاملاتودخلاصه کولومرحله : دمالي کال په پای کي تولي ثبتوني خلاصه کیږي دلته دلیجرله معلوماتوڅخه دمالي بیان دچمتوکولوپه خاطردګتي اوتاوان حساب اوتوازن پاڼه جوړیږي

5- دمعاملاتودتحلیل اوتعبیرکولومرحله : دتحلیل اوتعبیرپه مرحله کي دترتیب سوي مالي بیان څخه نتیجه اخیستل کیږي پدي مرحله کي په مناسبه اومعناداره توګه دتجارت

دبریالیتوبونو،دېنه دوام اوشتمنیوپه هکله تصویرجوړېږي اودسوداګري دراتلونکي په هکله پلانونه جوړېږي

## دکتابوالی اومحاسبي ترمنځ توپیر

## Differences between Book-keeping and Accounting

په اول نظرخوکتابوالی اومحاسبه یوشان معلومېږي خوپه حقیقت کی ده دوی ترمنځ ډېرتوپیرونه موجوددی چي ځیني یي په لاندي ډول سره دی

1- دجوړښت اساس : کتابت هنردی محاسبه علم دی
2- فعالیت : کتابوالي دحسابونودځاراوساتني لومړي مرحله ده .خومحاسبه دحسابونواوکتابوالي دساتني دوهمه مرحله ده په دی ډول نوویلای شوچیري چي دکتابوالي فعالیت ودریدي پرهغه ځای دمحاسبي فعالیت شروع کیږي
3- پراختیااوانکشاف : کتابوالي یواځي دتجارتي اواقتصادي معاملاتوساتنه کوي خومحاسبه دمعاملاتودساتني برسیره دسوداګري مالي بیان هم جوړوي ځکه نودمحاسبي فعالیتي ډګرترکتابوالي پراخه دی
4- وظیفي : په اوسنیووختونوکي دکتابوالي زیاتره وظایف دماشین پواسطه ترسره کیږي خوداچي په محاسبه کی دحساب ټوله پروسه شامله ده نودبشرپه ذریعه ترسره کیږي
5- تحلیل اوتعبیر: ځنګه چي کتابوالي یوازی حسابونه ثبتوي خومحاسبه دسوداګري دمالي بیان تحلیل اوتعبیرهم کوي اوصحیح اوغلط یي هم رااېستلای شو
6- قوانین اوتعقیب : کتابوالي دمحاسبي قوانین تعقیب اوعملي کوي خومحاسبه دتجارتی معاملاتودثبت لپاره یوه مناسبه طریقه ډیزان ،رامنځ ته اوپراختیاورکوي یاپه بل عبارت کتابوالي په ثبتونوکي دمحاسبي اصول په نظرکی نیسي خومحاسبه بیاداسی اصول وړاندي کوي چي کتابوالی یي مراعاتوي
7- دګټی یاتاوان نتیجه : له کتابوالي څخه دکاروباردګټي اوتاوان نتیجه نه معلومېږي ځکه کتابوالي دمالي بیان ،دګټي اوتاوان حساب ،اوتوازن پاڼي له جوړولوسره هیڅ کارنلری خوله محاسبي څخه بیاخاص دکاروباردګټي اوتاوان دنتایجودمعلومولوپه خاطراستفاده کیږي ځکه چي دمحاسبي اصلی تړاودمالي بیان له جوړولواوترتیبولوسره دی
8- خاصیت : دکتابوالی کارپه ورځني توګه جریان لري چي دخاصیت له مخي میرزایي دی ،خودمحاسبي کاربیاپیچلی اوتخنیکی دی

9- اسانوالی : دکتابوالي کاراسانه دی ځکه نودحساب دځآنګي يوتيټ رتبه کارمن ته ورسپارل کيږي چي ميرزايی يي بولي خودمحاسبي کارپيچلوتخنيکونوته پام سره ډيرسخت دی اودحساب دڅانګي لوړرتبه کارمندته چي په تخنيکونويي بلدوي ورکول کيږي اومحاسب يي بولي

10-دکارونوډيروالي : ميرزايوازي دکتابوالی کارونه ليکي چي دومره ډيرندی خومحاسب داداري په هره برخه کی خپل اړونداودکتابوالي کارونه هم څاري چي وظيفه يي سخته اوکاريي ډيردی

11-وخت : په کتابوالي کي معاملي دفعتآثبتيږي .خوپه محاسبه کي معاملي په عمومي توګه ثبت کيږي اوترمعين وخت وروسته دمالي کال په پای کی ارزول کيږي .

## دمحاسبي اهداف (objectives of Accounting)

1- دسوداګري دثبتونوڅارنه : دمحاسبي اساسي هدف دادي چي دسوداګري دټولوتجارتي معاملات ثبت وساتي اوڅارنه يي وکړي ځکه هره مالي معامله بايدپه مکمله توګه ثبت سی که معامله سمه ثبت نشي نوداډيره مشکله ده چي هره معامله په يادوساتل شي اوپه دي صورت کي دکاروبارڅخه په صحيح توګه نتيجه نشي ترلاسه کيدلای

2- دکاروباردګټي اوتاوان محاسبه کول : دهرتجارت لومړي هدف دګټي ترلاسه کول دي دمحاسبي هدف هم دادی چي دکال په جريان کي ترلاسه شوی ګټه معلومه اويقيني کړي دګټي اوتاوان حساب وکړي اودسوداګري دسرته رسونوجاج واخلي دامعلومات دمالي بيان په واسطه ترلاسه کيدای شي چي عبارت دګټي اوتاوان حساب څخه دي مالي بيان ديومشخصي دوري لپاره جوړيږي چي کارکوونکوته اړوندتجارت دګټي اوتاوان په هکله معلومات ورکوي دګټي درامنځ ته کيدوپه صورت کي مديريت دخپلوتوليداتوپه هکله مهمي فيصلي کوی اوکه چيري تاوان راغلي وي بياداره په خپلوفعاليتونوله سره غورکوي چي پدي صورت کي دفعاليت ددريدوخطرهم موجودوي

3- دکاروبارمالي بيان وړاندي کول : دمحاسبي يوبل مهم هدف دادی چي دسوداګري مالي بيان يقيني کړي دابيان ديوي پاڼي پواسطه وړاندي کيږي چي توازن پاڼه يي بولي په توازن پاڼه کی دثابتي اودوراني شتمني پرمشتريانودپاته پور،دسوداګری په ذمه پاته پوراوسرمايي په هکله معلومات ورکوي توازن پاڼه ديوي سوداګري دمالي طاقت هنداره ده که شتمني ترپوروڼوډيره شي مالی طاقت زورورډی اوکه پوروڼه ترشتمنيوډيرسول بيانومالي طاقت کمزوری دی

4- دمعلوماتووړاندي کول : دمحاسبي یوبل اساسي هدف دادی چي دکاروباردداخلي اوخارجی مینوالوسره مالي معلومات شریک کړی داخلي مینه وال هغه کسان دي چي دتجارت کارونه اداره کوي لکه دلوړي ،منځني اوټیټي کچي مدیران .خارجي مینوال بیاله خاوندانو،پانګه والو،پورورکوونکو،مشتریانو،کارکوونکواوحکومت څخه عبارت دي

## دمحاسبي دندي یاوظایف (Function of Accounting)

محاسبه ډیري دندي یاوظایف لري چي مهمي یي په لاندي ډول دي

1- دتجارت دمالی معاملاتو اصولي ثبت کوي په محاسبه کي دسوداګري مالي معاملات په مالي بیان کي پرمناسبوحسابونوباندي ګروپ بندي اوخلاصه کیږي دعایداتو،ګټي اوتاوان حساب اوتوازن پانه جوړوي

2- محاسبه دتجارت دملکیتونو اوشتمنیوساتنه کوي دسوداګري دملکیتونو اوشتمنیودسموثبتونوپه هکله مدیریت تازه معلومات ورکوي همدارنګه محاسبه مدیریت ته دسوداګري په شتمنیو اوملکیتونوباندي دښه کنټرول وړتیاورکوي ځکه نومحاسبي ته نومحاسبي ته دسوداګرۍ سترګي اوغوږونه هم وایي

3- محاسبه دسوداګري دژبي یامعلوماتي سیستم دنده سرته رسوي لکه ژبه چي دارتباط نیولومنبع بلل کیږي همداسي محاسبه دسوداګري په هکله اړوندمینوالوته مالي معلومات وړاندي کوي

4- محاسبه دقانون غوښتنوته مستندجواب وایي دکمپنیوقانون ،دعوایدودمالیي قانون اودخرڅونودمالیي قانون له هرتجارت څخه غوښتنه کوي چي خپلي مهمي ثبتوني وساتي اوداړتیاپروخت خپل مالي بیانونه ،دعوایدواوخرڅونومعلومات دکلني مالیي دارزوني په خاطروروسپاري

5- محاسبه دفعالیتونودوامداره ثبت ساتي چي کاردتجارتي هستي سره دروان کال اوتیروکلونودفعالیتونوترمنځ مقایسه اسانه کوي هرتجارت هیله لری چي کال په کال یي فعالیتونه ښه اوګټه یي ډیره شي په دي خاطراداره دروان کال اوتیرکال فعالیتونه سره پرتله کوي که تیروتني موجودي وي بیانواصلاحات پکي راولي

6- دسوداګري دراتلونکي لپاره داغیزناکه پلان دجوړولوپه خاطردداري په تیرواوروانوفعالیتونوخبریدل ضروري دي محاسبه په دي برخه کي هم له مدیریت سره مرسته کوي چي دتیروخت اواوسني حالت نه ځان پوه کړي په حقیقت کي محاسبي ته ددغسي پوهي دکیلي په سترګه کتل کیږي

## له محاسبي څخه استفاده اوګټي (uses,Advantages or Role oF Accounting)

له محاسبي څخه دمختلفومالي اهدافولپاره استفاده کیږي لکه خپلواړوندمینوالوته دمهمواوګټوروملعلوماتودوړاندي کولوپه خاطردتولومالي پیښوثبتول چي وروسته هغوی ددي معلوماتوپه رڼآکي مناسب تصمیمونه نیسیی موږویلای شوچي له محاسبي څخه دکاروبارداهدافودلاسته راوړلولپاره استفاده کیږي دمحاسبي مهمي ګټي په لاندي ډول دي

1- دمالي نتایجوپه ښوولوکي ګټورتیا : هرتجارت ته دمهموپریکړودکولوپه خاطرمهمه ده چي دکاروبارپه ګټه اوتاوان باندي ځان پوه کړي محاسبه دمالي نتایجوپه ښودلوکي ډیره ګټوره ده ځکه دکاروباردګټي اوتاوان حساب جوړوي اودکاروباردوړتیامعلومات وړاندي کوي
2- دکاروباردمالي بیان په ښوولوکي ګټورتیا : دمحاسبي اصلي هدف یادنده دمالي بیان ښوول دي ځکه مالي بیان دیوه کاروباردپانګي ،پورونواوشتمنیوپه اړه معلومات وړاندي کوي
3- دحافضی عوضي : دیوه تاجرلپاره داډیره مشکله ده چي دکاروبارټولی پیښي اومعاملات په حافضه کي وساتي ځکه نومحاسبه دغه ستونزه حلوي اودکاروبارټولي پیښي اومعاملات ثبتوي
4- دماليي په محاسبه کولوکي مرسته کوي : محاسبه دعایداتي ماليي په ارزونه کي مرسته کوي اوددي ترڅنګ دخرڅونودماليي په محاسبه کولوکي هم ګټوره ده
5- محاسبوی ثبوت یاسند : دکاروباردمعلوماتودثبت څخه هروخت دثبوت دوسلي په توګه استفاده کیږي که دیوه کاروبارپه معاملاتوکي هرډول جنجال يااختلاف رامنځ ته شي نوهغه سندونه چي دمعاملاتودثبت په وخت کي جوړشوي وي دثبوت په توګه استفاده ځیني کیږي
6- دکاروبارپه خرڅلاوکی مرسته کوونکي : که یووخت کاروباربندکیږي اومکمل ثبتونه يي موجوده وي په دي صورت کي داړوندکاروباردخرڅلاودپاره ښه مناسب قیمت ټآکل کیدای سي خوکه چیری مکمل اومنظم ثبت موجودنه وي دابه ډیره مشکله وي چي دشتمني صحیح ارزښت وپیژندل سی اوپورونه يي معلوم اواداکړل شي
7- دتیروتنواوچلبازیوپه نیولوکي مرسته کوي : که چیري دیوه کاروباردکارکوونکوله خواهرډول چل یاتیروتنه ترسره سی نودمکملوثبتونوپه مرسته ډیرژرنیول کیدای سی
8- په مقایسوي مطالعه کي مرسته کوي : دمحاسبوي ثبتونوساتنه پخواني کړني له اوسنیونتایجوسره په مقایسه کي اساني راولي په دی ذریعه دتیرکال معلومات داوسني کال له معلوماتوسره مقایسه کیږي اوپه رڼاکي يي دراتلونکي لپاره پلان جوړيږي اووړاندوینه کیږی

## دمحاسبي محدوديتونه (Limitations of Accounting)

که څه هم محاسبه ډيري ګټي لري خودډي ترڅنګ ځيني محدوديتونه هم لري چي مهم يی په لاندي ډول دي

1- مالي محاسبه کاملآيادقيقه صحيح نه ده : په محاسبه معاملات دواقيعت پراساس ثبت کيږی لکه ديوه شي رانيول اوخرڅول ،دنغدوپيسوترلاسه کول يادپورونوتاديه کول چي دادقيق دی امائيني وختونه دګټي اوتاوان دصحيح اندازی دمعلومولولپاره په حسابونوکی تخمينات هم ثبتيږي لکه دشتمنيوداستهلاک دوره ،مشکوک طلبات اوداسی نوردغه اټکلونه چي کيږی شايددخلګودمختلفوطبيعتونوپراساس په بيلابيلوحالتونوکی له يواوبل وخت سره توپيرلري اوپه دقيق ډول نشی ښودل کيدای

2- محاسبوي نتايج دکاروبارصحيح ارزښت نسي ښودلای : ديوه کاروبارتوازن پاڼه دکاروباردشتمني اوپورونوپوره ارزښت نسی ښوولای ځکه په توازن پاڼه کي ځيني مشخصي شتمنی وجودلري چي دبياخرڅلاولپاره يی يادونه نه وي شوي بلکي هروخت استعماليږي په داسی حال کي چي دشتمنيواستهلاک هم په عادی اومنظم ډول وخت پروخت وضع کيږي

3- محاسبه دکاروبارپه هکله مکمل معلومات نسی ورکولای : دمخه مووويل محاسبه يواځي هغه معاملات ثبتوی چي مالي جوړښت ولری هغه معاملات چي اقتصادی جوړښت نلري هغه نه ثبتوي لکه دمديرايماندارى ، دکارګرانوښه صحت،داجناسوکيفيت اودکارکوونکوموثريت اوځيني نور.ځکه نوويلای شومحاسبه بيله حساب څخه دکاروباردټول چاروپه هکله صحيح اودرست انځورنسي وړاندي کولای .

4- ځيني وختونه غلطه پايله لاسته راځي : کله کله دمختلفوميتودونوله وجی غلط راپورونه يابيانونه اماده کيږي داځکه چي دبازارقيمت کښته وي اوپه شکل يعني قطي ،کارټن اوپاکټ باندی مختلف قيمتونه وي

5- دکاروبارانځورونه : ترڅوچي دمحاسبي اصول ،مفاهيم يامقررات په صحيح اودقيق ډول عملي شوي نه وي ترهغوپوري محاسبه موږته دکاروبارپه هکله صحيح اودرست انځورنسي وړاندي کولای

6- محاسبوي موضوعات په مکمل ډول له انفلاسيون څخه نه متاثره کيږي : که چيري په محاسبه کی مکمل تعديلات ترسره شوی نه وی نودګټی اوتاوان لاس ته راغلي حساب به صحيح نه وي داځکه چي په حساب کي به له انفلاسيون څخه استفاده نه وي سوی .ځينی وخت هغه

شیان چي ارزښت نلری هم په محاسبه کي ښودل کيږي لکه لومړني یاابتدایي مصارف ،پرونډوباندي تخفیف اوداسي نورشیان

## دمحاسبي ماهيت اوجوړښت (Nature and structure of Accounting)

دمحاسبي ماهیت دهغه سستم په معنادي پرکوم اساس چي دکاروبارپه کتابونوکي پیسوی معاملات ثبت کيږي خودمحاسبي جوړښت یاساختمان بیادمضمون دموضوعاتوپه معني دي یاپه بل عبارت ټول هغه مطالعات چي دمحاسبي ترچیترلاندي کيږي دیته دمحاسبي جوړښت ویل کيږي په عمومي توګه دمحاسبي منل شوي اصول دمحاسبي اساس تشکیلوي چي دمحاسبي په جوړښت کي په محاسبه کي استعمال شوي اصطلاحات ،په کتابونوکي دمعاملاتودثبتوني اصول ،دمحاسبي مفاهیم اوتړونونه پکښي شامل دي

## دمحاسبي څانګي (Branches of Accounting)

محاسبه پردري عمده برخوویشل شویده چي عبارت دي له مالي محاسبه ،دمصارفومحاسبه اواداري محاسبه څخه چي هره یوه يي په لنډډول تشریح کوو.

### مالي محاسبه (Financial Accounting)

دمحاسبي سستم له لویه سره یوازي دچاروا وفعالیتونودمالي نتایجودمعلومولوپه خاطررامنځ ته شویدی چي په تاریخواره توګه دمعاملاتوثبتول اودحسابونوجوړول پکښي شامل دي مالي محاسبه مدیریت ته دسوداګري دمالي حالت دبیانولووړتیاورکوي چي له کبله يي مدیریت په خپلوملکیتونواوشتمنیوباندي دبشپرکنټرول جوګه کيږي په یادمووي چي مالي محاسبه دسوداګري له تیروپیښوسره سروکارلري اودترسره شويوچاروپه هکله معلومات وړاندي کوي اودیوي سوداګري اوسني مالي حالت معلوموي مالي محاسبه دراتلونکي په هکله وړاندوینه نسي کولای یوازي دماضی اوحال زماني سره سروکارلري سره لدي چي دسوداګري دمالي بیان څخه استفاده کوونکي داینده وخت ارزیابي ته ضرورت لري خومالی محاسبه یوازي دتیراواوسني وخت په باب ګټورمعلومات وړاندي کوي چي دهغوپه رڼاکي مدیریت دخپل راتلونکي په هکله پیشبیني کوي .

### دمصارفومحاسبه (cost Accounting)

دلګښت محاسبه په بنسټیزه توګه مخکي له مخکي دیوه تولیدمصارف تخمینوي اومدیریت ته يي مفصل تحلیل وړاندي کوي په مالي محاسبه کي دسته محدودیتونوپه خاطروروسته دلګښتونومحاسبه رامنځ ته شویده له دي لاري فابریکي په خپلوتولیداتودراتلونکي لګښتونواورقم رقم مصارفوحساب کوي

دلګښتونوپه هکله معلومات په سوداګرى كي ديوشميرمهموپريكړودنيولوپه خاطرپه كاريږي دمثال په توګه كمپني غواړي ديوه ګراک دفوق العاده غوښتني پراساس هغه ته پداسي حال کي دخپل توليدي جنس نوي نرخ وركړي چي هم هغه جنس ارزانه تمام شى هم كمپني ګټه وكړي اوهم دجنس ښه كيفيت وساتل شي دمنابعودكاختي يالږوالي په صورت کي لګښتى مخاسبي ته ډيره اړتياده ځكه مديربايدپررامنځ ته كيدونكومصارفوباندي دښه كنټرول په خاطرسم حساب وكړي

## اداري يامديريتي محاسبه (managerial Accounting)

اداري محاسبه پدي نيژدي كلونوكي نوي رامنځ ته شويده دامحاسبه يوي اداري ته دخپلوكارونودښه ترسره كولووړتياوركوى اداري محاسبه داداري دفعاليتونوبوديجه ترتيبوي اوكوښيش كوي چي ارزانه يي تمامه كړي دسوداګري په مصارفوباندي كنټرول ولري اوله عايداتوڅخه څارنه اوپه هكله يي پريكړه وكړي ادارى محاسبه دسوداګري دورځنيو(لنډمهال)فعاليتونواوستراتيژيكو(اوږدمهاله) فعاليتونوپه هكله څارنه اووړاندوينه كوي

## دكتابوالي اومحاسبي سيستمونه (systems of Book-keeping and Accounting)

دمعاملاتودثبت سيستمونه په دري ډوله دي چي عبارت دي له نغدي ،يواړخيزه اودوه اړخيزه سيستمونوڅخه دي چي هريويي په لاندي ډول سره دي

## نغدى ياتجارتي سيستم (cash and mercantile system)

دمحاسبي په نغدي سيستم کی يوازى په نغدوپيسوترسره شوى معاملات دثبت وړدي دلته دمعاملاتوثبت يوازى هغه وخت كيږي چي سوداګرى ته نغدي پيسى ورسيږي په نغدي سيستم کی په پورترسره شوس معامله دثبت وړنده په دي سستم كي ثبتونه دهم هغه نغدي مبلغ په اندازه كيږي چي معامله په ترسره شوي وي دمثال په توګه دمارچ په پاى كي د5000افغاني په اندازه دكرايي دوركولووخت رارسيدلي دى خودغه كرايه عملآداپريل پر15باندي تسليميږى اوس نوكه دكمپني حسابونه دمارچ پر13باندى تړل كيږي په دي تاريخ هيڅ ثتبونه نه كيږي اوكه حسابونه دنغدوپربنيادساتل كيږي نوبه داپريل پر15باندي ثبتونه په داسي توګه كوي چي دكرايي حساب ډبټ اودنغدوحساب كريډټ شي په هرصورت په نغدتجارتي سيستم کی دوي ثبتوني كيږى .اول پر31دمارچ دكرايي لګښت چي رسيدلي وي چي پورراپورته شوي وي .دوهم پر15اپريل بله ثبتونه چي هغه مسؤليت ځاى پرځاى شو.

دغه سیستم دکوچینیوخدماتي معاملاتولپاره ښه وي لکه دډاکټرمحاسب ،وکیل ،کلب اواستادفیسونه چې معمولآپه نغدوترسره کیږي خودغټومعاملاتولپاره بشپړندی ځکه هیڅ داسي سوداګري نسته چي دېورمعاملات نه پکښي رامنځ ته کیږي .دغه سیستم په نوماله توګه ښه دی ځکه چي په حساب کي یوازي هغه مبلغونه نسی چی دورکړي وړوي دادمالي بیان دځرګندوني دپاره ښه دی

## یواړخیزه سیستم (single Entry system)

دمعاملاتودثبتوني یواړخیزه سیستم اصلآهغه پخواني دودیزسیستم دی چي یوازې دمعاملي یوطرف په نظرکی نیسي نغدي سیستم کومه ځانګړي تګلاره نلري چي ټول کسان یي یورقم تعقیب کړي اشخاص اودکوچنیومعاملاتودوکانداران معمولآله دغه سیستم څخه کاراخلي دغه یواړخیزه سیستم له وړایه اسانه معلومیږي خوپه حقیقت کي ډیرګران تماميږي ځکه نمګړي دی اوحتي ویلای شوچی دابیخي سیستم ندی

## دوه اړخیزه سیستم (Double Entry system)

په دوه اړخیزه سیستم کي معاملات په سیستماتیک یااصولي توګه ثبت سوي وي داطریقه خپل ځانته ټول منلي اصول اومعیارونه لري چي کارکوونکي یي خامخاپه نظرکي نیسي په محاسبه یوازي واقعي سیستم همدادوه اړخیزه سیستم دی ځکه هره معامله په حقیقت کي دوه اړخونه لري اوبایددوه ځایه ثبت شی دوه اړخیزه پدي معنی که څوک یوشي ترلاسه کوي په مقابل کی دهغه په قیمت بل شي (پیسي) له لاسه ورکوي چي دواړه طرفونه یي دحساب په کتابونوکي ثبت کیږي له دوه اړخیزسیستم څخه چي عصري یی هم بولي په نړي کي ټول تجارتي موسیسات ،بانګونه ،تولیدي کمپنیاني .مخابراتي اوټرانسپورتي خدماتي شرکتونه ،روغتیایي ،دولتي اوغیردولتي اداري استفاده کوي .

# دوهم فصل

## دمحاسبي اساسي اصطلاحات (Basic Terms of accounting)

محاسبه خپل ځانته جلاژبه اواصطلاحات لري چي په كاروبارونوكي ورته استعماليږي دمحاسبي دبښي زكړي په خاطرله اصطلاحاتوسره اشنايي ډيره مهمه ده يوه بله اضافه كاري لاداده چي برطانوي اوامريكايي اصطلاحات لكه دانګليسي ژبي په نوروبرخوكي دلته هم له يواوبل سره فرق لري پرامريكايي اوبرتانوي اصطلاحاتوسربيره د international Accounting standard Board له خواكاريدونكي ځيني اصطلاحات له امريكايي اوبرتانوي سره فرق لري ځكه دابورډځيني له امريكايي اوځيني له برتانوي انګليسي څخه رااخيستي دي

**پانګه (capital )** : دكاروباردمالک ياخاوندله خواسوداګري ته راوړل سوي پيسي پانګه بولي دي

پيسوته خالص ارزښت هم ويل كيږي كه له مجموعي شتمني څخه ټول مسوليتونه منفي كړوپانګه په لاس راځي .داچي دمحاسبي په اصولوكي كاروباراومالک ته ددووجلاپديدوياشخاصوپه نظركتل كيږي نوهمدارنګه دمالک له خوارا وړل شوي پانګه په محاسبه كي دتجارت په ذمه دمسوليت ياپورپه توګه پيژندل كيږي

**شتمني (Assets)** : شتمني له هغه ارزښت لرونكوشيانو،ملكيتونواوجايدادونوڅخه عبارت ده چي

دكاروبارپه عملي كيدوكي استفاده ځيني كيږي ياپه بل عبارت هرهغه شي چي كاروبارګته ځيني ترلاسه كوي عبارت له شتمني څخه دى دفيني finny اوميلر miller په نظرشتمني له راتلونكي اقتصادي ګټي اوياحقوقوڅخه عبارت ده چي ديوي موسسي اوياانفرادي شخص له خواكنترروليږي اويايي ملكيت وي كوهلربياپه خپل كتاب كي opines Dictionary for Accountantsداسي تعريف كړيده هرهغه فزيكي شي اوياحقوقي شي چي دخښتن لپاره اقتصادي ارزښت ولري له شتمني څخه عبارت ده د chartered Accounting of india انستيتوت بياشتمني داسي تعريف كړيده (ديوي كمپني ټول لمس كيدونكي شيان اونه لمس كيدونكي حقوق چي په اينده كي ګټه ورڅخه ترلاسه كيږي له شتمني څخه عبارت ده ..له پورته تعريفونوڅخه داوضح شوه چي شتمني بايدپه اينده كي اقتصادي ګټه ولري اودتصدي پواسطه كنترول كړل شي شتمني په پراخ ډول پرثابته شتمني اودوراني شتمني باندي ويشل شويده .

**الف : ثابته شتمني (fixed Assets) :** ثابته شتمني هغه ده چي دکاروباردعمليي لپاره رانيول کيږي اوبيانه خرڅيږي لکه ځمکه ،تعمير،ماشين الات ، فرنيچراوداسي نور .

**ب: دوراني شتمني (current assets) :** دوراني شتمني هغه ده چي دبياخرڅولوياپه نغدوپيسودتبديليدلوپه خاطردلنډي مودي لپاره ساتل کيږي لکه ناخرڅ سوي اجناس ، دراکړي ورپورونه ،دراکړي وربيلونه دبانک حساب اوداسي نور .

**پورونه (liabilities) :** مسوليتونه ديوى تجارتي تصدى له موجوده ضرورتونوڅخه عبارت دي چي تصدي ځيني وخت ورسره مخامخ کيږي مسوليتونه په داسي ډول تعريفو (مسوليتونه داوسنيوضرورتونوپه خاطرپه اينده کي داقتصادي ګټي احتمالي قرباني ده ) دمحاسبي عمومي منل شوي اداري په نظر (مسوليتونه ديوي تصدى اقتصادي ضرورتونه دي چي دمحاسبي دعمومي منل شويو اصولومطابق اندازه اوپيژندل شويدي ) مسوليتونه په لاندي دريوډولونوويشل شويدى

**الف : لنډمهاله مسوليتونه :** داهغه پورونه دي چي په يوه کال کي دتاديي ياورکړي وړوي دمثال په توګه پوروړي ،دتاديي وربيلونه،دبانکي حساب څخه اضافي راايستني اوداسي نور.

**ب: اوږدمهاله مسوليتونه :** داهغه مسوليتونه دى چي له يوکلني دوري څخه وروسته دتاديي وړوي لکه Bonds اوداسي نور.

**ج : احتمالي مسوليتونه :** داهغه مسوليتونه دي چي په غيراطميناني پيښوياًمعاملاتوکي رامنځ ته کيږي يادامسوليتونه دراتلونکوپيښوپه واقع کيدواونه واقع کيدوپوري اړه لري .دمثال په توګه که چيري يوپلارپه بانک کي دزوى دموټردرانيولوضمانت وکړي نودلته پلاراحتمالي مسوليت لري که چيري پيسي زوى ورکړي نوپلاربه هيڅ مسوليت ونه لري اوکه چيري زوى بانک ته پيسي ورنکړي نوبيايي پلاردورکولومسوليت لري داډول مسوليتونه په توازن پاڼه کي نه ثبت کيږي بلکي دمينوټ (footnote) په ډول دتوازن پاڼي په اخره کي ثبت کيږي ټول هغه مسوليتونه چي تصدى يي دورکړي په هکله شکمنه وي ددي ډول مسوليتونه مثالونه دى

**عوايد (Revenue) :** هغه مبلغ چي يوکاروباريي دتوليداتودخرڅلاواوخدماتودعرضه کولوڅخه په لاس راوړي له عوايدوڅخه عبارت دي لکه خرڅوني ،کميشن ، سود،توزيع شوي ګټه ،کرايه ،رارسيدلي امتياز،حق الاختراع اوداسي نور.ويلاى شوچي عوايدهغه مبلغ دي چي دکاروباردعملي په نتيجه کي وپانګي ته وراضافه کيږي .

**ورداشت (Drawing) :** هغه اندازه پیسي اواجناس چي دکاروباردخاوندانوله خوادشخصي استعمال په خاطرله کاروبارڅخه دباندي ایستل کیږي عبارت له ورداشت څخه دي .

**ضررونه (Losses) :** ضرر هغه مصارفوته ویل کیري چي دتصدی هیڅ ګټه پکي نه وي .دفرعي معاملاتوپه نتیجه کي دیوي تصدی دخالصي دارایي په ارزښت کي کمښت ته ضررویل کیږي اوهغه کمښت چي دتصدی دمصارفواودتصدی مالکینوته دتوضیح په نتیجه کي منځ ته راځي له دي جملي څخه ندي .بلکي ضرورونه عبارت دي له اختلاس ، غلا، طبعي حوادثواونوروڅخه دي

**لاسته راوړني (Gains) :** داله عادي اومنظمي ګټي څخه جلادفرعي معاملاتوپه نتجه کي دیوي تصدي دخالصي دارایي په ارزښت کي زیاتوالي ته ویل کیږي لکه دسرمایي څخه لاسته راوړني ،دفابریکي ددارایي پلورل اوداسي نورپکي شامل دي دلته ددارایي هغه زاتوالي چي دعوایدواوپانګي اچوني څخه لاسته راځي له دي جملي څخه نه دي .

**ناخالصه ګټه (Gross profit) :** ناخالصه ګټه دیوي کمپني وهغي ټولي ګټي ته ویل کیږي چي دیوه جنس دخرڅلاوله امله لاسته ته راغلي وي په ناخالصه ګټه کي یوازی دیوه جنس په تولیدپوري تړلي مستقیم مصارف په نظرکي نیول سوي اوله ګټي څخه منفي سوي وي دلته له ګټي څخه ثابت لګښتونه لکه کرایه ، معاشات،قرطاسیه،اونورمنفي کیږي

**خالصه ګټه (Net profit) :** خالصه ګټه دیوي کمپني هغي ټولي ګټي ته ویل کیږي چي دجنس دخرڅلاوله امله لاسته راغلیوپیسوڅخه مستقیم اوغیرمستقیم مصارف ټول ویستل سي .له ناخالصي ګټي څخه دټولومصارفوتروتلووروسته پاته شوي ګټی ته خالصه ګټه ویل کیږي خوکه چیري مصارف ترناخالصِي ګټی زیات وي نونتیجي ته خالص تاوان ویل کیږي .

**دخرڅلاوتمام شوی لګښت (cost of goods sold) :** دخرڅلاوتمام شوي لګښت دخرڅ سوواجناسومستقیم لګښت ته ویل کیږي .

**تخفیف (Discount) :** مشتریانوته چي داجناسودخرڅلاوپه بیه یي کي کمښت ورکول شي له تخفیف څخه عبارت دي هغه تخفیف چي مشتری ته ددیرمال تررانیولووروسته دخرڅوونکي له خواورکول تجارتي تخفیف ورته ویل کیري اوکه دچټکوتادیاتودپاره تشویقي تخفیف ورکړل شي دي ته نغدي تخفیف ویل کیږي

**بونډ (Bond) :** بونډهغه کاغذی سنددی چې دپوردتضمین په توګه ترېوه کال دډېروخت لپاره خپرېږي تصدیاني ،حکومتونه اوخدماتي اداري بونډونه دپانګې دجذبولوپه خاطرخرڅوي پانګه وال چې بونډرانیسي هغوی په حقیقت کې په دې توګه بونډخرڅوونکي ته خپلې پیسې په پورورکوي اودوخت په تیریدوسره سودورڅخه اخلي

**مالي بیان (financial statement) :** دیوې اداري دمالي چاروحالت معمولآپه دووبرخوکې بیانیږي چې یوه برخه یې رامنځ ته شوي ګټه اوتاوان ارښي اوبله برخه یې په کاروبارکې داداري شتمني – ملکیتونه اودپانګه اچونکوپه ذمه پورونه راته په ګوته کوي چې توازن پاڼه یې بولي اودشتمني ،پورونو،اوخاوندانودسرمایې لنډیزپکښې بیانیږي .

نن سباچې په نړي کې اکثره سوداګري دونډوالوشرکتونوله خوامخته وړل کیږي .هغوی قانوناً مکلف دي چې دخپلوکلنیوکړنومعلومات په مالي بیان کې په معیاري اواصولي توګه ترتیب اودشفافیت په خاطریې له ټولواړونداشخاصو،ونډوالو،اداراواوحکومت په اختیارکې ورکړي په مالي بیان پوهیدل نه یوازي دسوداګري خاوندانوته مهم دي بلکې نوراشخاص اواداري هم سته چې دسوداګریوله کلنیوراپورونوسره علاقه لري لاندې ټول اړخونه یوپه یوتشریح سوي دي .

1- **مدیران (managers) :** مدیران معمولآدتجارت دورځنیواوستراتیژیکواهدافوپه باره کې تصمامیم نیسي .دوی کوښښ کوي چې په کموامکاناتواومنابعوډېرکارکنترول کړي ځکه نومدیران دتجارت دمالي حالت په هکله معلوماتوته ضرورت لري چې په دې ذریعه دخپلوپرله پیسی فعالیتونوپایلي اټکل کړي اودتیروفعالیتونوپه هکله نظرپوښتنه وکړي داکارله دوی سره مرسته کوي چې دتیروخت کامیابوتصامیموته دوام ورکړي اوناکام اړخونه اصلاح کړي .
2- **ونډه وال (share holders) :** که یوه سوداګري دتشکیل له مخې دکمپنیوله قوانینوسره سمه رامنځ ته شوي وي پدې صورت کې کمپني مجبوره ده چې خپل ونډوال دکلني مالي بیان په واسطه دکاروبارپه ګټه اوتاوان باندې خبرکړی په دې توګه ونډوال دکمپني په شتمنیواومسولیتونویاپورونوباندې هم پوهیږي .
3- **پانګه اچوونکي (investors) :** هغه پانګه اچونکي چې دکمپني دونډوالوله رانیولوسره علاقمندوي اویاکمپني ته په اډوانس کې پیسی ورکوي طبعه غواړي لومړی دسوداګري په مالي بیان ځآنونه خبرکړي چې ایاددوی مخکني پانګه ونه خوندي وه یابه یې راروانه پانګه ونه خوندي وي

4- **پوروركوونكي (creditors) :** يوي كمپني ته په پوردامو الو،خامومو ادو او خدماتو وركوونكي هم پدی پوهيدل غواړي چي اياكمپنی پرخپل وخت ددوی دپورونو دبيرته وركولوجوګه ده دمالي بيان له راپورڅخه هغوی په ډيرښه توګه دكمپني دبوردادايني توان اوطاقت ارزولای سي .

5- **كارمندان (Employees) :** په ځينوسوداګريوكي كاركوونكوته دتجارت دګټي په تناسب پرمياشتني معاش سربيره بونس هم وركول كيږي چي په دي صورت كی كارمندان هم دسوداګري په ګټه اوتاوان له خبريدوسره دلچسپه كيږي په مالي بيان خبريدل له هغوی سره مرسته كوي چي له كمپني سره پرخپلومعاشاتوباندي په ډاډه زړه وړغيږي .

6- **مشتريان (costumers) :** مشتريان هم ديوي كمپني ددوام اوفعاليتونوپه باب معلوماتوته ضرورت لري په تيره بياهغه مشتريان چي له كمپني سره اوږدمهاله مهاله معاملات كوی .

7- **عوام (public) :** فابريكي په يوه نه يوډول سره عام خلک اغيزمنوي دمثال په توګه دفابريكي دستګاوی چاپيريال خرابوي ياهم دخپلوفعاليتونودپاره كليوالي سيمي لاندي كوي په دي خاطرعوام هم غواړي دكمپنيومالي بيان ته لاس رسي ولري چي داړوندكمپني له پرمختګونواوپه اينده كي دهغوی فعاليتونوته دپراختياوركولوله ميلان څخه خبرسي

8- **حكومتونه (Governments) :** دنړي په ټولو هيوادونوكي حكومتونه دسوداګريزوچاروا ړونداحصاييه دسوداګريوله كلنيومالي راپورونوڅخه راټولوي په دي ذريعه مالي حسابونه سره يوځای كوي اوپركلنيوعايداتوباندي ماليي راټولوي

9- **څيرونكي (Researchers) :** مالي بيان دتجارت دهنداري حثيت لري اودسوداګريزواومالي چاروله څيرونكوسره دهغوپه تحقيقاتوكي مرسته كوي همداڅيرونكي داصلاحاتودراورستلوپه خاطركمپنيواواړوندادارو ته مشوري اووړانديزونه كوي .

## Transaction : معامله

معامله يوه بهرني پيښه ده چي ددوياز ياتومنابعوترمنځ تبادله څرګندوي يايه بل عبارت يومشخصه خارجي واقعه چي په پيسوي اصطلاح سره وښودل سي اودكمپني په مالي حالت كي تغيررامنځ ته كړي عبارت دمعاملي څخه ده. يوه معامله ددوياز ياتونهادونوترمنځ ديوشي دارزښت انتقال ترسره كوي .معامله ددووډولوترمنځ دارزښت راكړه وركړه ده . دبله اړخه كيدايشي معامله داسي واضح كړوهغه واقعات چي دتصدی په شتمني اوپانګه كي تغيرراولي عبارت دمعاملي څخه ده. په هره معامله كي ديوه ځای څخه بل ځای ته دارزښت انتقال دی. دپورته تشريحاتوڅخه واضح سوه چي دمعاملي مفهوم دراكړي وركړي په معني دی.دمثال په ډول كه چيري اجناس په نقده رانيول سي نودلته اجناس دخرڅونكي څخه انتقاليږي ورانيونكي ته اودرانيونكي څخه نقده انتقاليږي وخرڅونكي ته .

## دمعاملي ځانګړتیاوي :

1- معامله بایدددوډولوترمنځ تغیرات رامنځ ته کړي.
2- معامله بایدپه پیسواودپیسودارزښت په مفهوم سره اندازه سي .
3- معامله دمحاسبي پرمساواتوباندي مستقیمه اغیزه لري .
4- معامله دوه اړخه لري دګټي لاسته راوړل اوګټي قرباني کول .

## دمعاملوډولونه :

1- ساده معاملي   2- مرکبي معاملي   3- مغلقي معاملي

4-نقده معاملي   5- غیرنقده معاملي   6-داخلي اوخارجي معاملي

## پیښه یاواقعه : Event

پیښه یاواقعه عبارت دتغیرڅخه ده چي کیدایشي دیوتصدی په مالي حالت کي تغیرراولي اویاکیدایشي تغیررانه ولي .هره معامله واقعه کیدایشي خوهره واقعه معامله نشی کیدای.واقعه کیداسي داخلي لکه دمنیجرمړینه په تولیدکي دنوی موادواستعمال دکارګروزیات کوښښ اوداسي نور. اوهمدارنګه واقعه کیدای سي خارجي وي لکه دتولیداتوپه قیمت کي تغیر دکمپیوټرپواسطه دټکنالوجي پرمختګ اوداسي نور.

مثال: تاسووښیاست چي لاندي واقعي دامین افغان کمپني لپاره معاملي دي کنه

1- امین افغان کمپني خپل تجارت په 40000افغاني سرمایي سره پیل کړ
2- کارګرانوته یي د5000افغاني په ارزښت معاشات ورکړل .
3- دقیمتونولیسټ دعزیزله شرکت څخه راورسید.
4- د500000افغاني په ارزښت تجهزات رانیول شوه .
5- د4000په ارزښت مفتي نموني راورسیدي .
6- دبانک څخه د2000افغاني په ارزښت ګټه ترلاسه شوه.

**حل :**دلته هره معامله دامین افغان کمپني له رویه کتل کیږي هغه واقعات چي دکاروبارپه مالي حالت کي تغیرراولي هغه معاملي دي اوهغه واقعات چي دکاروبارپه مالي حالت کي تغیرنه راولي هغه معاملي نه دي .

1- دایوه معامله ده ،ځکه دکاروبارپه مالي حالت کي تغیرراولي .
2- دایوه معامله ده ،ځکه دکاروبارپه مالي حالت کي تغیرراولي .
3- دایوه معامله نده ځکه دکاروبارپه مالي حالت کي تغیرنه راولي .
4- دایوه معامله ده ځکه دکاروبارپه مالي حالت کي تغیرراولي .
5- دایوه معامله نه ده ځکه دکاروبارپه مالي حالت کي تغیرنه راولی .
6- دایوه معامله ده ځکه دکاروبارپه مالي حالت کي تغیرراولي .

## دمعاملي اوواقعي ترمنځ فرق :

دپورته تشريحاتوڅخه داپه ثبوت ورسيدل چي هره معامله واقعه کيدايشي خوهره واقعه معامله نشي کيدای.ځکه چي ځيني مهم توپيرونه دمعاملي اوواقعي ترمنځ په لاندي توګه موجوددی .

معامله ( Transaction)

1- معامله دکمپني په مالي حالت کي تغيرراولي .
2- معامله يوه پيښه ده .
3- محاسب دحسابونوپه کتاب کي ټولي معاملي ثبتوي .
4- په معامله کي ددوډولوترمنځ داجناسواوخدماتوتبادله اړينه ده.
5- معامله بايدپه پيسوي معيارسر وارزول شي.
6- معامله دمحاسبي داصولوپر اساس ثبت کيږي.

پيښه(Event)

1-پيښه کيدايشي دکمپني په مالي حالت کي تغيرراولي يايي رانه ولي
2- خوپيښه معامله نده.
3- محاسب ټولي پيښي نه ثبتوي.
4-په پيښه کي دااړينه نده چي ددوډلوترمنځ دي داجناسواوخدماتو تبادله ترسره شي.
5-پيښه هميشه په پيسوي معيارسره نه ارزول کيږي.
6-دپيښي لپاره دمحاسبي خاص اصول نشته.

## حساب (Account )

حساب دمحاسب يامحاسبي ژبه يارمزدی چي محاسبوي ثبتونه وکړي اومعلومات وړاندي کړي.حساب دري برخي لري چي عبارت دي له عنوان (دحساب نوم)،راسته طرف(کريډيټ طرف)،چپه طرف(ډبټ طرف) دهرډول شتمني،پور،عايد،مصرف اوپانګي لپاره بيل بيل حسابونه جوړيږي.

## دحسابونوطبقه بندي :

ټول هغه حسابونه چې تجارتي تصدی یی لری په دووګروپونویی ویشلای شو. 1ــحقیقي(دایمي) حسابونه (Real Accounts) 2- اسمي(موقتي) حسابونه (Nominal Accounts)

### 1ــ حقیقي حسابونه (Real Account)

دشتمني،پوروونواوسرمایي حسابونوته حقیقي حسابونه ویل کیږي.داحسابونه دمحاسبوي کال دختمیدووروسته هم موجودیت نوځکه په حقیقي حسابونومشهور دي یعني داحسابونودهري دوري په پای کي نه تړل کیږي.دي حسابونوته دبیلانس شیټ حسابونه هم وایي.ځکه چي بیلانس شیټ ته انتقالیږي .مثالونه یی لکه ځمکه،فرنیچر،تعمیر،مشنري،تجهیزات،طلبات،بانکي نقده،ګودام،بونډز،سرمایه اوداسي نور.

**2 ــ اسمي حسابونه (Nominal Accounts)** دمصارفواوعوایدوحسابونوته اسمي حسابونه ویل کیږي.دمصارفومثالونه لکه معاشات،کرایه،داعلاناتومصارف،دسودورکول ،تخفیف ورکول اوداسي نور.دعوایدومثالونه لکه دخدماتوعواید،دخرڅلاوعواید،دربحي عواید،ړتخفیف ترلاسه کول اوداسي نور.داحسابونه دهري دوري په پای کي تړل کیږي نوځکه په اسمي حسابونومشهوردي.داحسابونه د ګټي اوتاوان حساب ته انتقالیږي.

### ژونال (journal)

دتجارتي معاملاتودثبت لومړني کتاب دی.چي معاملي یکي په تاریخواره ډول په ثبت رسول کیږي .په ژونال کي ثبت شوي ارقام بیالیجرته انتقالیږي .

### لیجر (Ledger)

دحسابونودثبت کتاب دی په لیجرکي هرحساب ځانګړي پاڼه لري .عمومي لیجردټولوشتمنیو،قرضونو،پانګي،عایداتواولګښتونودحسابوڅخه تشکیل شوي .دلجرکتابونه په عمومي لیجرکي دموجودوحسابونوتفصیل څرګندوي .

### انتقال (Posting)

دژونال څخه لیجرته دمعلوماتواوارقامونقلول عبارت دPostingڅخه دي .

### ازمایشي بیلانس (Trial Balance)

په لیجرکي دټولوحسابونواودهغوی دبیلانسودلیسټ څخه عبارت دی .ازمایشي بیلانس چي دژورنال څخه لیجرته دارقامودانتقال اواصلاح څخه وروسته ترتیب شي نودازمایشي بیلانس په نوم یادیږي . که چیري دحسابونودتړلووروسته بیلانس ترتیب شي تودحسابونودتړلووروسته ازمایشي بیلانس ورته ویل کیږي .

**اصلاحي ياتصفيوي معاملات (Adjusting Entries)**

ددي په خاطرچي دټولوحسابونوانتقال دمحاسبوی اصولوپربنسټ شوي وي دمحاسبوي دوري په پای کي اصلاحي معاملات صورت نيسي ترڅويودقيق مالي حساب ترتيب کړل شي .

**مالي حسابونه ياماليي راپور (Financial statement)**

مالي حساب ياراپورچي دمحاسبوي ارقاموجمع اوري،جدول بندي اوخلاصه په برکي نيسي .مالي حساب ياراپوردځلوروحسابوياراپوروڅخه جوړشوي دي.

**توازن پاڼه (Balance Sheet)**

بيلانس شيټ دهري دوري په پای کي دکمپني مالي حالت څرګندوي .

**دګټي اوتاوان حساب ( income Statement )**

دګټي اوتاوان حساب ددوري په جريان کي درامنځ ته شويومعاملاتودنتيجي اندازه څرګندوي.

**دپيسودجريان حساب (Cash flow statement)**

ددوري په جريان کي دعملياتو،پانګي اچوني اومالي فعاليتونوپه لړکي دپيسوتهيه اواستعمال څرګندوي.

دنه ويشل شوي ګټي حساب

ددوري دشروع نه بياتراخره دنه ويشل شوي ګټي موازنه څرګندوي .

**دحسابونوتړل (Closing)**

دحسابونوتړل هغه پروسه ده چي پواسطه يي ټول اسمي حسابونه بنداوصفرکيږي اونتيجه يي دشخصِي پانګي حساب ته انتقاليږي .داپروسه دليجردتړلواويايواځي دتړلو(Closing) په نامه ياديږي .

**ډ بټ اوکريډيټ : Debit and Credit**

د Debit لغت دلاتيني لغت Debitumڅخه اخستل شوي چي معني يي ديوچاپوروړی کيدل دي.کوم چي دابني چي دورکړي وړپيسي ياپورونه کوم دي.اودCreditلغت دلاتيني لغت Creditum څخه اخيستل شوي .اودCreditum لغت بيادCreder څخه اخيستل شوي چي معني يي اعتباردی ياپه يوچاباندي باوردرلودل دي.خوليکن په تخنيکي لحاظ ډبټ اوکريډيټ دپوروړي کيدواواعتبارپه معني نه کارول کيږي .بلکي دمعاملاتودثبت دځای دمعلومولولپاره کارول کيږي .چپ طرف ته دمعاملاتوثبت ډيبټ کيدل اوښي طرف ته دمعاملاتوثبتول کريډيټ کيدل ګڼل کيږي . ډيبټ هميشه په Drاوکريډټ هميشه په Crسره ښودل کيږي .دډبټ اوکريډيټ دپرتله کولوپه صورت کي که ډيبټ دکريډيټ په پرتله زياتوالي ولري نوحساب دډيبټ بيلانس اوکه کريډيټ دډيبټ په پرتله زياتوالي ولري نوحساب دکريډيټ بيلانس درلودونکي دی.

# دریم فصل

## دډیبټ اوکریډیټ قوانین : Rules of Debit and Credit

داچي یوه معامله دحسابونوپه کتاب کي په ډیبټ طرف کي لیکل کیږي یابه په کریډیټ طرف کي لیکل کیږي دادحسابونوپه خصوصیاتوپوري اړه لري .چي ټول حسابات په لاندي حسابونوباندي کټګوري شویدي .

1- دشتمني حساب 2- دپوررونوحساب 3- دپانګي حساب 4- دعایدحساب 5- دمصرف حساب

## 1- دشتمنیوحساب : (Assets account)

لکه څرنګه چي پوهیږوشتمني دکاروباردعوایدواوګټي په لاسته راوړلوکي مستقیمه مرسته کوي.نوپه شتمني کي زیاتوالي اوکموالي بایدپه سیستماتیک ډول سره ثبت شي ترڅودکاروبارپه حقیقي مالي حالت باندي پوه سو.کله چي داسي معامله ترسره شي چي په شتمني پوري اړه ولري .نوموړبایدفکروکړوچي شتمني زیاته شویده اوکه کمه شویده.که چیري په شتمني کي زیاتوالي راغلي وي نودازیاتوالي په ډیبټ طرف کي لیکل کیږي اوکه چیري په شتمني کي کموالي راغلي وي نودشتمني داکموالي په کریډیټ طرف کي لیکل کیږي. مثال: د 200000افغاني په ارزښت په نقده ډول ماشنري رانیول شوه.

داچي په دي حالت کي مشنري راغلي نوشتمني زیاته شویده چي دشتمني زیاتوالي په ډیبټ طرف کي لیکل کیږي.که چیري ماشنري تللي وایي نوپه شتمني کي کموالي راتلي چي دشتمني کموالي په کریډیټ طرف کي لیکل کیږي .

## 2- دپوررونوحساب : (Liabilities Account)

دابايد ذکرسي چي دیوکاروبارپوررونه تغیرکوي .لکه څرنګه چي موږپوهیږودپوررونوزیاتوالي دکاروباردمالک په پانګه کي دپوردانداړی دزیاتوالي سبب ګرځي .نودپوررونوزیاتوالي دحساباتودکتاب په کریډیټ طرف کي لیکل کیږي اودپوررونوکموالي دحساباتودکتاب په ډبټ طرف کي لیکل کیږي یاپه بله اصطلاح که چیري پوررونه زیات شي په کریډیټ طرف کي لیکل کیږي اوکه پوررونه کم سي په ډبټ طرف کي لیکل کیږي .

مثال: دعزیزڅخه د20000افغاني په ارزښت اجناس په پوررانیول شول.

دلته که چیري خپل پوررونته فکروکړونوزموږپوررونه زیات شویدي اوکمپني پورروړي شویده نوپه دي اساس دحساباتوپه کتاب کي بایددکریډیټ په طرف کي ولیکل سي.

### 3- دپانګي حساب : (Capital Account)

پانګه هغه مبلغ ته ویل کیږي چي دکاروباردخاوندانوله خواسره یوځای شوي وي اودملکیت حساب بني.په طبعي ډول دکاروبارهرمالک چي پیسي راوړي نوددي پیسوپه راوړلوسره دکاروبارپانګه هم ضافه کیږي اوهرمالک چي دکاروبارڅخه برداشت وکړي نوپانګه په هم هغه اندازه کمیږي نوپه همدي اساس که چیري په پانګه کي زیاتوالي راسي دپانګي دحساب په راسته طرف کي یعني کریډیټ کي لیکل کیږي اوکه په پانګه کي کموالي راسي نودپانګي دحساب په چپه طرف یعني ډیبټ کي لیکل کیږي.

مثال : کاروبارته د60000افغاني په ارزښت سرمایه راجمع شول.

په دي حالت کي دکاروباردمالیکنوله خوادکمپني پانګه اضافه شوه نوپه همدی ترتیب دکاروباردپانګي دحساب په راسته طرف یعني کریډیټ کي لیکل کیږي خوکه چیري دکاروبارمالکین دکاروبارڅخه پیسي وباسي نوبیادپانګي دحساب په چپه طرف یعني ډیبټ کي لیکل کیږي .

### 4- دعوایدویاګټي حساب : (Revenue or income or profit Account)

دعوایدوپه زیاتوالي سره به دکاروبارپه ګټه کي زیاتوالي راسي چي دادعوایدودحساب په راسته طرف یعني کریډیټ کي لیکل کیږي .اوهمدارنګه دعوایدوپه کموالي سره به دکاروبارپه ګټه اوارزښت کي کموالي راسي چي دادعوایدودحساب په چپه طرف یعني ډیبټ کي لیکل کیږي. په لنده توګه دعوایدوزیاتوالي کریډیټ کیږي اوکموالي یي ډیبټ کیږي .

مثال : د100000افغاني په ارزښت کرایه ترلاسه شوه .

همداشان دکرایي ترلاسه کیدل دکرایي دحساب په راسته طرف یعني کریډیټ کي لیکل کیږي ځکه عوایدزیات شویدي .که چیري موږکرایه ورکړي وای نوبیاهغه دکرایي دحساب په چپه طرف یعني ډیبټ کي لیکل کیده ځکه چي زموږعوایدکم شوي دي .

### 5- دمصرف یاضررحساب : (Expenses or loses Account)

دمصارفوزیاتوالي دعوایدوکموالي دی چي دابیاخپله دګټي کموالي دی اودمصارفوکموالي دعوایدوزیاتوالي دی چي دابیاپه خپله دګټي زیاتوالي .نوپه همدي اساس دمصارفوزیاتوالي ډیبټ کیږي اودمصارفوکموالي کریډیټ کیږي.

مثال : ماشین د25000افغاني په ارزښت ترمیم سو.

دترمیم مصارف دمصارفودزیاتوالی سبب ګرځي .نوپه همدي اساس دترمیم مصارف دترمیم دحساب په چپه طرف یعني ډیبټ کي لیکل کیږي .اودمصارفوکموالي په راسته طرف یعني کریډیټ کي لیکل کیږي

## ددوه طرفه ثبت سیستم : (Double Entry system)

داسیستم دیوایټالیاوي تجار(Luca Pacioli) لخوامنځ ته راغلي دی.ددي سیستم په اساس هره معامله دوه جوړه اړخونه لري . دمثال په ډول یوه ډله ګټه ورکوی اوبله ډله ګټه لاسته راوړی .اوهمدارنګه هره معامله په دووبرخوویشل شویده یوډیبټ طرف اوبل کریډیټ طرف په لنډډول دمکمل ثبت په خاطردیوی معاملي لپاره یوحساب ډیبټ کیږي اوبل حساب کریډیټ کیږي.نوپه دي خاطرهره معامله دوه حسابونه په متضادډول متاثره کوي . دمثال په ډول که چیری اجناس پرښاغلي احمدباندي خرڅ کړل سي نودلته به ثبتونه په متضادډول دوه حسابونه ترتاثیرلاندی راولي چی یودخرڅلاوحساب چي په کریډیټ طرف کي لیکل کیږي اوبل دښاغلي احمدحساب چي ډیبټ کیږي .نودي سیستم ته دثبتوني دوه اړخیزه یامضاعف سیستم ویل کیږي. ځکه داسیستم دهري معاملی لپاره ثبت په دووحسابونوکي کوي .

### ددوه طرفه یامضاعف سیستم خصوصیات

1- دامیتوددیوي معاملي دوه اړخونه ثبت کوي .
2- تردي سیستم لاندي دهري معاملي لپاره په دووحسابونوکي په ماساوي توګه ډیبټ اوکرډیټ ثبتوني ترسره کیږي .
3- تردي سیستم لاندی تولي معاملي په مکمل ډول ثبت کیږي .
4- تردي سیستم لاندي ازمایښي بیلانس ترتیب کیدلای شي .
5- تردي سیستم لاندی په جزیاتوسره ګټه اوتاوان معلوم کیدای سي .
6- تردي سیستم لاندي بیلانس شیټ یاتوازن پانه دتشریحاتوسره معلوم کیدای شي .

### ددوه طرفه یامضاعف سیستم ګټي :

1. دیوکاروباردټولومعاملاتومکمل ثبت په سیستماتیک ډول ساتل کیږي.
2. دیوکاروبارمالي حالت ترلاسه کیږي .
3. دیوکاروباردحسابونوصحت یاصحیحوالي راښي چي دمعاملاتوثبت اویانورحسابونه په صحیح ډول ترسره سویدي کنه .
4. دغلطیوځای اوبیاصحیحوالي راښي .
5. داسیستم دهرارګان لپاره داستفادي وړدي .
6. دمحاسبي په کتابونوکي یي ثبات ساتلي چي ددي ثبات پواسطه کولای سوداوسنی کال اوتیروکلنوترمنځ مقایسه وکړو.
7. ددي سیستم پواسطه په یومحاسبوي دوران کي لاسته راغلي ګټه اویامنځ ته راغلي تاوان معلومیږي .
8. دعرضه کوونکی اوګراک تادیي اویادراکړي وړمبالغ په اساني سره معلومیږي .
9. په هروخت کي دنقدي دبیلانس اندازه راښی .
10. دمدیریتي تصامیموپه نیولوکي مرسته کوي .

11. دیوکاروبارپه کارونوباندي بهترین کنټرول ترسره کیدای سي اودفساداوتقلب مخه هم نیول کیدای سي .

12. دکاروبارمعاملات دکاروباردمالک دشخصي معاملاتوسره نه ګډېږي .

## محاسبوي مساوات یااساسي معادله (Accounting Equation)

دمضاعفي محاسبي په چوکاټ کي هره معامله چي ډيبټ کيږی بایددهغه په مقابل کي کریډیټ هم وجودولري اوددي برعکس . دغه ادعادمحاسبوي مساواتوخبره په اثبات رسوي دمحاسبوي مساواتونظریه یامیتودپه عصري میتودسره مشهوردی (دیته دتوازون پاني مساوات هم وایي ) چي دتولي مالي محاسبي اساس پردي مساواتوولاړدی یاآړه لري . معادله یي په لاندي شکل سره ده .

شخصي سرمایه + قرضونه = شتمني

Assets = Liabilities + Stock holders Equity

## دمحاسبه کولوطریقي :

دپورته توضیحاتوڅخه داپه مکمله توګه واضیح شوه چي شتمني،قرضونه اوپانګه دهري تجارتي معاملي اساسي اصطلاحات دي اوددوی ترمنځ په رابطه کي هیڅ کله تغیرنه راځي نوداواضیح ده چي په یوه عنصرکی تغیردنوروعناصرودتغیرسبب ګرځي .

لاندي مثالونه په نظرکی ونیسی :

**1- دشتمني دزیاتوالي سره دپانګي متقابل زیاتوالي :**

مثال : کاروبارد50000افغاني په پانګه سره پیل شو.دامعامله به په لاندي شکل وي

Accounting Equation

| Transaction | Assets | = | Liabilities | + | Capital |
|---|---|---|---|---|---|
| Started business with Cash | 5000 | = | 0 | + | 50000 |

**2- دشتمني دزیاتوالي سره دپورونومتقابل زیاتوالي :**

مثال : د10000افغاني په ارزښت اجناس په پوررانیول شول .

| Transaction | Assets | = | Liabilities | + | capital |
|---|---|---|---|---|---|

Started business with Cash 50000 = 0 + 50000

Total 50000 = 0 + 50000
50000 Purchase goods on credit for Afn + 10000 = 10000
+ 0

New Equation 60000 = 10000 + 50000

**3- دیوي شتمني دزیاتوالي سره دبلي شتمني متقابل کموالي.**

مثال: مشین الات د20000افغاني په ارزښت نقده رانیول شوه.

**دابه ځانته لاندي حالت غوره کړي**

| Transaction | Assets | = | Liabilities | + | Capita |
|---|---|---|---|---|---|
| Started business with Cash | 50000 | = | 0 | + | 50000 |
| Total | 50000 | = | 0 | + | 50000 |
| Purchase goods on credit for Afn | + 10000 | = | 10000 | + | 0 |
| Total | 60000 | = | 10000 | + | 50000 |
| Bought a machinery for cash | + 20000 | = | 0 | + | 0 |
| | -20000 | | ------------- | | |
| ---------- | | | | | |
| New Equation | 60000 | = | 10000 | + | 50000 |

**4- دشتمني دکموالي سره دپورونومتقابل کموالي .**

مثال: د5000افغاني په ارزښت سره پوراداسو.

**دابه څانته لاندي حالت غوره کړي**

| Transaction | Assets | = | Liabilities | + | Capita |
|---|---|---|---|---|---|
| Previous Equation | 60000 | = | 10000 | + | 50000 |
| Paid to Creditor | - 5000 | = | -5000 | + | 0 |
| New Equation | 55000 | = | 5000 | + | 50000 |

# څلورم فصل

## دکاروبارکتابونه

هغه کتابونه چي په کاروبارکي پکاروړل کيږي په دووبرخوويشل شويدي چي نموني يي په لاندي ډول دي .

1. دکاروباراصلي کتابونه لکه : ژونال اوليجر
2. دکاروبارکومکي کتابونه لکه : دخرڅلاودمستردی کتاب،دورځني خرڅلاوکتاب، نقدي کتاب،اوداسي نور.

## دکاروباراصلي کتاب ژونال (journal)

په يوکاراوبارکي ټول هغه معاملات چي دورځي په جريان کي منځ ته راځي په يوکتاب کي ثبت کيږي چي دي کتاب ته ژونال ويل کيږي .دادمعاملاتودثبتونوبنيادي کتاب دی اودمعاملاتوثبت په ژورنال کي دمعاملاتودماهيت په اساس کيږي .دمثال په ډول کله چي شخصي حساب وي نولاسته راوړونکی ډبټ کيږي اوورکوونکي کريډيټ کيږي .که چيري حقيقي حساب وي هغه څه چي راځي ډبټ کيږی اوهغه څه چي ځي کريډيټ کيږي اوکه چيري اسمي حساب وي نوتاوانونه يامصارف ډبټ کيږي اوعوايديالاسته راوړني کريډيټ کيږي ديوی معاملي ثبت کول په ژونال کي عبارت دjournalizingڅخه ده .

دژونال شکل ياډول . لاندي دژونال شکل دی

| Date | Description | L.F | Debit | Credit |
|---|---|---|---|---|

ژورنال پينځه برخي ياColumns لري (دنيټي برخه،دتشريحاتوبرخه،دليجرنمبربرخه،دډيبټ برخه، اودکريډيټ برخه) هره معامله دوه ځايه ثبت کيږي .اول حساب ډيبټ کيږي اودوهم حساب کريډيټ کيږي کله چي دژونال په کتاب کي ثبتوني کيږي نواول حساب (ډبټ) دمشخصاتوپه برخه ډيرنږدي وخط ته

ليکل کيږي . په داسي حال کي چي دوهم حساب (کريډيټ) دمشخصاتوپه برخه کي دخط څخه په يوه اندازه فاصله سره ليکل کيږي .داپدي خاطرترڅودډبټ اوکريډيټ ترمنځ فرق وسي .

## دکاروبارکومکي کتابونه

کله چي په يوتجارتي نهادکي بي شميره معاملي اجراکيږي نودا اړينه ده چي داصلي ژورنال پرځای ځيني نورکومکي ژونالونه هم په کاراوچوي .کومکي ژورنالونه دمعاملاتوديومشخص گروپ لپاره استعماليږی .نوهمداسبب دی چي په زياتوغټوکاراوباررونوکی يوشميرکومکي کتابونه هم پکاروړل کيږي . دکومکي ژورنالونوياکتابونوڅخه هدف داصلي ژورنال سره مرسته کول دي . دکومکي کتابونو نموني په لاندي ډول دي .

1. Purchases Day Book : په دي کتاب کي ټول په پورسره درانيونومعاملات ثبت کيږي.
2. Sales day Book : په دي کتاب کي ټول په پورسره دخرڅونومعاملات ثبت کيږي .
3. Return inward Book : پدي کتاب کي ټول دګراکانوڅخه وتصدی ته دمستردی معاملات ثبت کيږي .
4. Return out ward Book : پدي کتاب کي ټول دتصدی څخه وعرضه کونکوته دموادودمستردی معاملات ثبت کيږي .
5. Bills Receivable Book : پدي کتاب کي دراکړي وړبيلونومعاملات ثبت کيږي .
6. Bills Payable Book : پدي کتاب کي ټول دورکړي وړبيلونومعاملات ثبت کيږي .
7. Cash Book : پدي کتاب کي ټول نقدي معاملات ثبت کيږي .

## په ژونال کي ثبتونوطرزالعمل :

په ژونال کي دثبتونوطرزالعمل ډيراسانه دي اوپه لاندي توګه ترسره کيږي .

1. دامشخصول چي کوم حساب ډبټ کيږي اوکوم حساب کريډيټ کيږي .کله چي دامعلومه شوه نوبياپه ژونال کي معامله ثبت کيږي .
2. کله چي معامله په ژونال کي وليکل شوه نونرهغه لاندي دمعاملي لنډه خلاصه ليکل کيږي. چي ديته Narration يامباحثه وايي .
3. دخلاصي وروسته يوخط کش کيږي چي دخط کش کيدل دامفهوم ورکوي چي معامله په مکمل ډول ثبت سوه اوخلاصه سوه .

مثال : لاندي معاملات دژورنال په کتاب کي په ثبت ورسوي .

1. دجون په دوهمه نيټه داحمدڅخه 4000 افغاني نقدأترلاسه شوي .
2. دجون په څلورمه نيټه 5000افغاني په ارزښت اجناس نقدأرانيول شوه.
3. دجون په شپږمه نيټه 10000افغاني په ارزښت اجناس پرمحمود خرڅ شول .
4. دجون په اتمه نيټه د20000 افغاني په ارزښت فرنيچردهارون څخه رانيول شوه .

5. دجون په لسمه نیته داداري دقرطاسيي لپاره 3000 افغاني ورکړل شوي .

حل :

ژونال ته داخليدنه

| Date | Description | L.F | Debit | Credit |
|---|---|---|---|---|
| 2/6/2015 | Cash A/C | | 4000 | |
| | To Ahmad A/C | | | 4000 |
| | Received cash from Ahmad | | | |
| 4/6/2015 | Purchase A/c | | 5000 | |
| | To Cash A/c | | | 5000 |
| | Purchase goods for Cash. | | | |
| 6/6/2015 | Mohammod A/c | | 10000 | |
| | To goods A/c(Sales A/c) | | | 10000 |
| | Sold goods to Mohammod | | | |
| 8/6/2015 | Furniture A/c | | 20000 | |
| | Haroon A/c | | | 20000 |
| | Bought furniture from Haroon | | | |
| 10/6/2015 | Office stationary A/c | | 3000 | |
| | Cash A/c | | | 3000 |
| | Paid for office stationary | | | |

مثال :

1. دجنوري په اوله نیته کاروبارد500000 افغاني په پانګي سره پيل شو.

2. دجنوري په دوهمه نيټه د3000افغاني په ارزښت اجناس نقدأ خريداري سول .
3. دجنوري په دريمه نيټه د6000افغاني په ارزښت اجناس په احمدپه پورخرڅ شول .
4. دجنوري په پنځمه نيټه 5000 افغاني کارکوونکوته معاش ورکړل شو.
5. دجنوري په شپږمه نيټه د 20000 افغانی په ارزښت تعميرنقدأ خريداری شو.
6. دجنوري په لسمه نيټه د4000 افغاني په اندازه داعلاناتومصارف ورکړل شوه .

حل :

| Date | Description | L.F | Debit | Credit |
|---|---|---|---|---|
| | نقده حساب | | 50000 | |
| 1/1/2016 | دپانګي حساب | | | 50000 |
| | کاروباردپنځوس زره پانګی سره پيل شو | | | |
| | رانيوني حساب | | 3000 | |
| 2/1/2016 | نقده حساب | | | 3000 |
| | اجناس په نقده رانيول شوه | | | |
| | احمدحساب | | 6000 | |
| 3/1/2016 | خرڅلاوحساب | | | 6000 |
| | اجناس پراحمدپه پورخرڅ شول | | | |
| | معاش حساب | | 5000 | |
| 5/1/2016 | نقده حساب | | | 5000 |
| | کارکوونکوته معاش ورکړل شو | | | |
| | تعميرحساب | | 20000 | |
| 6/1/2016 | نقده حساب | | | 20000 |
| | تعميرنقدأ رانيو شو | | | |

| | | |
|---|---|---|
| | اعلاناتوحساب | 4000 |
| 10/1/2016 | نقده حساب | 4000 |
| | داعلاناتومصارف ورکړل شوه | |

مثال : لاندي معاملات په ژورنال کي ثبت کړی.

1. کاروبارد30000افغاني په پانګي سره پيل شو.
2. دميوندبانک سره 2500افغاني په ارزښت بانکي حساب جوړشو.
3. عزيزالرحمن ته د500افغاني په ارزښت کميشن ورکړل شو.
4. دافغان شرکت څخه 1200افغاني په ارزښت اجناس په نقده ډول رانيول شوه .
5. داکرم څخه د2000افغاني په ارزښت اجناس په پوررانيول شوه .
6. اکرم ته د400افغاني په ارزښت اجناس ورمستردشول .
7. اکرم ته 1600افغاني ورکړل سوي .
8. دسرمايه ګزارئ څخه د600افغاني په ارزښت ګټه ترلاسه شوه .
9. ښاغلي بريالي ته 700افغاني کرايه ورکړل شوه .
10. دکاروبارمالک دشخصي مصارفولپاره 500افغاني دبانکي حساب څخه راوايستلي .
11. پرښاغلي احمدالله باندی د2000افغاني په ارزښت اجناس په نقده خرڅ کړل سوه .
12. په ښاغلي فيض الله باندي د1500افغاني په ارزښت اجناس په پورخرڅ کړل شوه .
13. د500افغاني په ارزښت دښاغلي فيض الله له خواڅخه اجناس رامستردکړل شوه .
14. دښاغلي فيض الله څخه د1000افغاني په اندازه نقدي پيسي راورسيدي .
15. دموټرڅخه درانيول شواجناسودراکښته کولولپاره کارکونکوته 200افغاني نقده ورکړل شوي
16. وموټرته دخرڅ شويواجناسودپورته کولولپاره کارکونکوته 600افغاني ورکړل شوي .
17. داداري دتنضيم لپاره د1000افغاني په ارزښت نقده فرنيچررانيول شو.
18. د1500افغاني په ارزښت تجهيزات نقده خريداري شول.
19. د500افغاني په ارزښت تجهيزات نقدآ خرڅ کړل شوه .
20. د600افغاني په اندازه دموټردترميم مصارف ورکړل شوه .

حل :

په ژورنال کي ثبت

| Date | Description | L.F | Debit | Credit |
|---|---|---|---|---|
| ١ | نقده حساب | | 30000 | |
| ٢٠١٥/١/ | دپانګي حساب | | | 30000 |
| | په نقدوپيسوکاروبارشروع شو | | | |
| ٢ | بانکي حساب | | 2500 | |
| ٢٠١٥/٢/ | نقده حساب | | | 2500 |
| | بانکي حساب جوړشو | | | |
| | کميشن حساب | | 500 | |
| ٢٠١٥/١/٣ | نقده حساب | | | 500 |
| | کميشن په نقده ډول ورکول شو | | | |
| | درانيوني حساب | | 1200 | |
| ٢٠١٥/١/۴ | نقده حساب | | | 1200 |
| | په نقدډول اجناس رانيول سوه | | | |
| ۵ | درانيوني حساب | | 2000 | |
| ٢٠١٥/١/ | دتاديي وړ(اکرم) حساب | | | 2000 |
| | داکرم څخه اجناس په پوررانيول شوه | | | |
| | دتاديی وړ(اکرم) حساب | | 400 | |
| ٢٠١٥/١/۶ | دمستردی حساب | | | 400 |
| | اجناس مستردکړل شوه | | | |
| ٧ | دتاديي وړ(اکرم) حساب | | 1600 | |
| ٢٠١٥/١/ | نقده حساب | | | 1600 |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | داکرم پوراداکړل شو | | |
| ۸ | نقده حساب | 600 | |
| ۲۰۱۵/۱/ | دعوایدوحساب | | 600 |
| | دسرمایه گوزاري څخه گټه ترلاسه شوه | | |
| ۹ | دکرايي حساب | 700 | |
| ۲۰۱۵/۱/ | نقده حساب | | 700 |
| | کرایه ورکړل شوه | | |
| ۱۰ | ورداشت حساب | 500 | |
| ۲۰۱۵/۱/ | بانکي حساب | | 500 |
| | دشخصي مصرف لپاره پیسي راویستل شوي | | |
| ۱۱ | نقده حساب | 2000 | |
| ۲۰۱۵/۱/ | خرڅلاوحساب | | 2000 |
| | پراحمدالله اجناس خرڅ کړل سوه | | |
| ۱۲ | طلبات(فیض الله) حساب | 1500 | |
| ۲۰۱۵/۱/ | خرڅلاوحساب | | 1500 |
| | پرفیض الله اجناس په پورخرڅ کړل شوه | | |
| ۱۳ | دمستردی حساب | 500 | |
| ۲۰۱۵/۱/ | طلبات(فیض الله) حساب | | 500 |
| | اجناس رامستردشول | | |
| ۱۴ | نقده حساب | 1000 | |
| ۲۰۱۵/۱/ | طلبات(فیض الله)حساب | | 1000 |
| | دفیض الله څخه پورراورسیدي | | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۵ | دمزدحساب | 200 | |
| ۲۰۱۵/۱/ | نقده حساب | | 200 |
| | داموالودراکښته کولومزدورکړل شو | | |
| ۱۶ | دمزدحساب | 600 | |
| ۲۰۱۵/۱/ | نقده حساب | | 600 |
| | موټرته داموالودپورته کولومزدورکړل شو | | |
| ۱۷ | فرنیچرحساب | 1000 | |
| ۲۰۱۵/۱/ | نقده حساب | | 1000 |
| | داداري لپاره فرنیچررانیول شوه | | |
| ۱۸ | تجهیزاتوحساب | 1500 | |
| ۲۰۱۵/۱/ | نقده حساب | | 1500 |
| | تجهیزات خریداري شول | | |
| ۱۹ | نقده حساب | 500 | |
| ۲۰۱۵/۱/ | خرڅلاو(تجهیزات)حساب | | 500 |
| | تجهیزات خرڅ کړل سوه | | |
| ۲۰ | دترمیم حساب | 600 | |
| ۲۰۱۵/۱/ | نقده حساب | | 600 |
| | دموټردترمیم مصارف ورکړل شوه | | |

## مرکب معاملات :

هرکله چي يوي معاملي ددووڅخه زيات حسابونه درلودل نوديته مرکب معاملات ویل کیږي .دغه معاملات هم په عین شکل ثبت کیږي .دمثال په ډول : که چیری پریومشتري اجناس خرڅ کړل شي

یوه اندازه پیسي نقدي ورکړي اونورپورپري پاته شي نوپه معامله کی شامل حسابونه به داسي وي 1- نقده حساب 2- دپورحساب 3- داجناسوحساب .

دمرکبي معاملي دثبت یوه نمونه :

| Date | Description | L.F | Debit | Credit |
|---|---|---|---|---|
| | Cash A/C | | 30000 | |
| | Debtors A/C | | 20000 | |
| 5/6/20015 | To goods A/C | | | 50000 |
| | اجناس په پوراوپه نقده خرڅ کړل شوه | | | |

مثال : تجارت په لاندي پانګي سره پیل شو.

1. نقده 3000 افغانی ، بانک 5000 افغاني، تعمیر10000 افغاني .
2. اجناس پراحمدد10000افغاني په ارزښت په نقده اود7000 افغاني په ارزښت په پورخرڅ کړل شوه .
3. دقسیم څخه د7000افغاني په ارزښت پورراورسید .

حل : **په ژونال کي ثبت**

| Date | Description | L.F | Debit | Credit |
|---|---|---|---|---|
| | Cash A/C | | 3000 | |
| | Bank A/C | | 5000 | |
| | Plant A/C | | 10000 | |
| 8/7/2015 | To Capital A/C | | | 18000 |
| | Started business with capital of: Cash AfN3000.Bank AFN5000. And Plant10000 | | | |
| | Cash A/C | | 10000 | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | Receivabale (ahmad) A/C | 7000 | |
| 10/7/2015 | To goods A/c | | 17000 |
| | Sold goods for cash afn10000 and credit afn7000 to ahmad | | |
| | Cash A/C | 7000 | |
| 12/7/2015 | To received (qasim)A/C | | 7000 |
| | Received Cash from Mr.qasim | | |

## تخفیف (Discount)

تخفیف پردوبرخوويشل شويدی 1- تجارتي تخفيف 2- نقدي تخفيف . چي هريويي په جلاتوګه تشريح شويدي .

## تجارتي تخفيف (Trade Discount )

داجناسوپه قيمتونوکي داکميدنه ياکمښت داجناسودرانيولوياخرڅولوپه وخت کي ورکول کيږي دي تخفيف ته دخرڅلاوتخفيف هم وايي . اوکه چيري تخفيف مورته راورسيږي نوبيادرانيونوتخفيف هم ورته ويل کيږي .

تجارتي تخفيف کيدايشي چی په لاندی حالتونوکي ورکول شي .

1. دتجارتي محصول په حيث
2. کله چي اجناس په عمده يازياته اندازه خرڅول اورانيول کيږي
3. کله چي پريوشناخته کاروباربانډی اجناس خرڅيږي اويارانيول کيږي

مخکي ترډي چي دجنس بيه په کتاب کي ثبت شي دتجارتي تخفيف کمښت داصلي لګښت اويادجنس دليکل شوي قيمت څخه کيږي .دتجارتي تخفيف لپاره جلامعامله نه جوړيږي .

مثال :

لاندي معاملات په ژورنال کي ثبت کي

1. داسلم څخه د20000افغاني په ارزښت اجناس د2٪ فيصده تجارتي تخفيف سره رانيول شوه .
2. د1٪ فيصدتخفيف په شمول د12000 افغاني په ارزښت اموال په نقده ډول رانيول شوه .

3. د10000افغاني په ارزښت اجناس پراحمد د٪5 فیصده تخفیف سره په نقده ډول خرڅ کړل شوه
4. د3000 افغاني په ارزښت اجناس پرسلیم باندي د٪3فیصده تخفیف سره په پورخرڅ شول .
5. د4000افغاني په ارزښت اجناس د٪2 فیصده تخفیف سره په پورړانیول شوه .

**حل :** **په ژورنال کي ثبت**

| Date | Description | L.F | Debit | Credit |
|---|---|---|---|---|
| | درانیوني حساب | | 19600 | |
| 6/8/2016 | دتادیی وړحساب | | | 19600 |
| | داسلم څخه اجناس دتخفیف سره رانیول شوه | | | |
| | درانیوني حساب | | 11880 | |
| 10/8/2016 | نقده حساب | | | 11880 |
| | په نقدډول اجناس دتخفیف سره رانیول شوه | | | |
| | نقده حساب | | 9500 | |
| 11/8/2016 | خرڅلاوحساب | | | 9500 |
| | پراحمدباندی اجناس دتخفیف سره خرڅ کړل شوه | | | |
| | طلبات حساب | | 2910 | |
| 12/8/2016 | خرڅلاوحساب | | | 2910 |
| | پرسلیم باندي اجناس په پورخرڅ کړل سوه سره دتخفیف | | | |
| | درانیوني حساب | | 3920 | |
| 13/8/2016 | دتادیي وړحساب | | | 3920 |
| | اموال په پوررانیول شوه سره دتخفیفه | | | |

## نقده تخفیف ( Cash Discount )

کله چي پورورى وپورورکوونکي ته دټاکلي وخت څخه مخکي پیسي تادیه کړي .نوپورورکوونکي یوټاکلي اندازه مبلغ وپوروړي ته دامتیازپه ډول ورکوي . داډول تخفیف دتادیاتودتشویق په خاطرورکول کیږى . په صورت عموم سره داتخفیف دمشخصي فیصدی پراساس ورکول کیږي کله چي تخفیف ورکول شي دي ته تللي تخفیف ویل کیږي . اوکله چي تخفیف راسي دیته راغلي تخفیف ویل کیږي . دژورنال په کتاب کي تللي تخفیف ډبټ کیږي اوراغلي تخفیف کریډیټ کیږي .

ددي تخفیف دتادیاتواصطلاح یااندازه په معامله کي ښودل کیږي دتادیي دورکړي اصطلاح تجارتي کوډونه لري چي ځیني مهم کوډونه دماناپه شمول په لاندي ډول درکول شویدي .

1. 30 Days داپدي معني چي که چیري دپورمبلغ بیرته په دیرش ورځوکي تادیه شي نوبیاتخفیف ورکول کیږي .
2. 2/10 – n/30 داپه دي مانا2٪ دوه فیصده تخفیف په هغه وخت ورکول کیږي چي پورپه لسوورځوکي تادیه شي خوپه دیرشوورځوکي به خامختاتادیه کیږي .
3. 2/E.O.M – n/30 داپه دي ماناچي 2٪ دوه فیصده تخفیف به هغه وخت ورکول شي چي پوردمیاشتي ترختمیدومخکي تادیه شي که نه په دیرشوورځوکي به یي خامختاتادیه کوي .

مثال :

1. واسلم ته د5000 افغاني په ارزښت پورد2٪ دوه فیصده نقدي تخفیف په تصفیي سره ورکول شو
2. د10000افغاني په ارزښت اجناس د3٪ نقدي تخفیف په ورکولوسره خرڅ کړل شوه .
3. دیوه ګراک څخه د1910 افغاني په ارزښت دراکړي وړپورراورسیدي چي 90افغاني تخفیف مخکي ځني وضع شوي .
4. د7900افغاني په ارزښت پورورکړل شوچي د100افغاني په ارزښت تخفیف راکړل شو.

حل :

**په ژورنال کي ثبت**

| Date | Description | L.F | Debit | Credit |
|---|---|---|---|---|
| | دتادیي وړ(اسلم)حساب | | 5000 | |
| 1/3/2015 | نقده حساب | | | 4900 |
| | تخفیف | | | 100 |
| | پوراداسوتخفیف ترلاسه شو | | | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | نقده حساب | 9700 | |
| 2/3/2015 | تخفيف | 300 | |
| | خرڅلاوحساب | | 10000 |
| | اجناس دتخفيف په ورکولوسره خرڅ شول | | |
| | نقده حساب | 1910 | |
| 3/3/2015 | تخفيف | 90 | |
| | طلبات حساب | | 2000 |
| | پورراورسيدی اوتخفيف هم ورکول شو | | |
| | دتاديي وړحساب | 8000 | |
| 4/3/2015 | نقده حساب | | 7900 |
| | تخفيف | | 100 |
| | ډيورپه اداکولوسره تخفيف راکول شو | | |

## خاص معاملات (Special Transactions)

**1- هغه اجناس چي دخيرات په ډول ورکول کيږي :** کله چي اجناس دخيرات په ډول يامفت ورکول شي نودرانيونواندازه کميږي .

مثال : احمدشرکت دکال په جيريان کي د6000 افغاني په ارزښت اجناس خيرات کړيدي . پورته معامله داحمدي شرکت په کتاب کی ثبت کړی .

حل :

**په ژورنال کي ثبت**

| Date | Description | L.F | Debit | Credit |
|---|---|---|---|---|
| | Charity A/C | | 6000 | |
| 5/6/2014 | To Purchases A/C | | | 6000 |

Goods distributed as charity

**نوټ:** داچي خيرات دمصرف حساب دی نوځکه داحساب دګټي اوتاوان حساب ته انتقاليږي .نوددي معاملاتوثبت په لاندي ډول دی .

| Date | Description | L.F | Debit | Credit |
|---|---|---|---|---|
| | Profit and loss A/C | | 6000 | |
| | To charity A/C | | | 6000 |
| | Goods distributed as charity | | | |

**2- داجناسودمفتونمونوويشل :** ددي نمونوڅخه هدف دادی چي توليداتوته پرمختګ ورکړي اوياخرڅلاوزيات کړي . ځني وخت اجناس دنموني په ډول ويشل کيږي چي داداعلاناتويوه برخه ده ځکه نوداعلاناتودحساب په ډول ثبت کيږي .اوداحساب لکه خيرات درانيونوڅخه کميږي چي داثبتوني په لاندي ډول دي .

| Date | Description | L.F | Debit | Credit |
|---|---|---|---|---|
| | Advertisement A/C | | 4000 | |
| | To Purchases A/C | | | 4000 |
| | Goods distributed as free samPles | | | |

## 3- تصادفي ضرورنه (Accidental Losses)

ځيني وخت دټکر،اور،اوياهم غلاله امله ضررونه منځ ته راځي .چي دضررونوحساب ډبټ کيږي اودرانيونوحساب کريډيټ کيږي .که چيری اجناس بيمه شوي وي نوبياپاليسي معلومه ده دبيمی دشرکت څخه دراتلونکي مبلغ په اندازه ضررونه کميږي .

مثال : د8000افغاني په ارزښت داورله امله اجناس خراب شول .

| Date | Description | L.F | Debit | Credit |
|---|---|---|---|---|

Fire A/C 8000

Purchases A/C 8000

Losses of goods by fire

مثال : کندهاریاران ایسکریم فابریکي د1394 کال دحمل دمیاشتي پر2 نیټه داورسوځیدنی یون بیمه د 100000 افغاني په ارزښت واخیستل .اودجوزادمیاشتي په 4نیټه يي دبیمي شرکت ته د2000افغاني په ارزښت جایزه ورکړه د1394 کال دسرطان دمیاشتي په 17 نیټه داورلګیدني له امله دیاران ایسکریم فابریکی د150000 افغاني په ارزښت اجناس وسوځیدل .دبیمي شرکت د1394 کال دسنبلي دمیاشتي پر12 نیټه پدي راضی سوه چي د85000افغاني په ارزښت تاوان یاران ایسکریم فابریکي ته ورکړي پورته معامله دیاران ایسکریم په کتاب کي په ثبت ورسوي .

| Date | Description | L.F | Debit | Credit |
|---|---|---|---|---|
| | دبیمي حساب | | 100000 | |
| 2/1/1394 | نقده حساب | | | 100000 |
| | داورسوځیدني بیمه رانیول شوه | | | |
| | دجایزي حساب | | 2000 | |
| 4/3/1394 | نقده حساب | | | 2000 |
| | دبیمي شرکت ته جایزه ورکول شوه | | | |
| | داوردتاوان حساب | | 150000 | |
| 17/4/1394 | درانیوني حساب | | | 150000 |
| | اجناس داورله امله خراب شول | | | |
| | دبیمي دشرکت حساب | دکټي | 85000 | |
| 12/6/1394 | اوتاوان حساب | | 65000 | |
| | داورله امله تاوان حساب | | | 150000 |

دبيمي شرکت زموږحق ومني اوضرريي دګټي
اوتاوان حساب ته انتقال شو

## وررداشت حساب : ( Drawings Account )

کله چي دکاروباردمالک له خوااجناس يانقده دشخصي استعمال لپاره دفابريکي څخه وايستل شي عبارت دورداشت حساب څخه ده . دورداشت حساب ډبټ کيږي .اوکه نقده راويستل شي نونقدي حساب کريډيټ کيږي . اوکه اجناس راوايستل شي نودرانيوني حساب کريډيټ کيږي يعني داجناسوبيه دتمام شد بيي پراساس ټاکل کيږي دمالک له خواداجناسوپه ډول ورداشت دخرڅلاودانداز زياتوالي نه شي بلکي درانيونوکموالي بني .ځکه چي دمالک له خواداجناسوپرورداشت باندي وفابريکي ته هيڅ ګټه نه راځي

**مثال** :دجنوري په اوله نيته دکمپني دمالک احمدله خواڅخه 9000افغاني دشخصي مصرف لپاره په نقده ډول واخيستل شوي .

### په ژورنال کي ثبت

| Date | Description | L.F | Debit | Credit |
|---|---|---|---|---|
| | Drawing A/C | | 9000 | |
| | To Cash A/C | | | 9000 |
| 1/1/2015 | | | | |
| | Mr. Ahmad takes 9000Afn for the Personal uses. | | | |

## ليجر(Leger)

په عمومي ژورنال کي دتجارتي معاملاتوثبتول موزده کړل .دوهمه مرحله داده چي تجارتي معاملات چي تجارتي معاملات دحسابونودخصوصياتومطابق ګروپ بندي ياتصفيه شي .په ليجرکی ديوه حساب مربوط ټول معاملات سره يوځای کيږي ترڅوددي مشخص حساب په خالص زياتوالي اوکموالي باندي پوه سو.دمثال په ډول که چيري موږوغواړودمالي دوري په جريان کي په ټولورانيونوياخريداريوباندي پوه سو نوموږکولای سودرانيونوټول مختليف مبالغ چي په مختليفووختونوکي ترسره سويدي په يوه صفحه کي راجمع کړو.کله چي دعين خصوصياتولرونکي معاملات په يوه صفحه کي راجمع کړونوموپه حقيقت کي

دليجرحساب جوړکړيدي .نوموړوېلاى سوچي ليجرهغه کتاب دى چي په هغه کي دټولوګروپ بندي سووتجارتي معاملاتوثبت ساتل شويوي .ياپه بل عبارت ليجرهغه کتاب دى چي په هغه کي دهرحساب لپاره جلاصفحه تخصيص شوي وي اوددي حساب اړونډټول معاملات دخلاصي په ډول پدي صفحه کي ثبت کيږي .نوځکه ليجرته دحسابونودټولوحسابوپاچاويل کيږي .

### دليجرګټي

دامخکي واضح سوه چي ليجرداخرني ثبتونوکتاب دى.نوليجرډيري مستقيمي اوغيرمستقيمي ګټي لري چي په لاندي ډول دي .

### دليجرمستقيمي ګټي

1. دازمايشي بيلانس اماده کول : دامکان نلري چي ازمايشي بيلانس دي دليجرڅخه بغيره جوړشي ځکه چي ازمايشي بيلانس دليجرحسابونودبيلانس په اخيستلوسره جوړيږي علاوه ترددي دليجردنه موجوديت په صورت کي حسابي صحت ناممکن دي .
2. داخرني حسابونوورانډي کول : موړپوهيږوچي اخرني حسابونه يوازي دازمايشي بيلانس څخه جوړيږي . لکه دګټي اوتاوان حساب اوتوازون پاڼه يابيلانس شيټ . که چيري دازمايشي بيلانس لپاره دليجرحسابونه ونه لرودانممکنه ده چي ازمايشي بيلانس ترتيب کړو.
3. دثبتوني دمضاعف سيستم مکمليدنه : دثبتونومضاعف سيستم يوازى هغه وخت مکمل کيږي چي دژورنال څخه وليجرحسابونوته معاملات نقل کړو.
4. دهرحساب دنتيجي ښودل : دمضاعف سيستم داصولوپراساس دهرحساب نتيجه دليجرڅخه لاسته راوړل کيږي .
5. دګروپ بندي شويوحسابونوساتل : دګروپ بندي شويوحسابونومشخصات هغه وخت ښکاره کيديشي چي کله په ليجرحسابونوکي په مکمل ډول ثبت شي .

### دليجرغيرمستقيمي ګټي :

1. داحصايوي معلوماتوړاندي کول : دليجرحسابونه اودهغوى مهم بيلانسونه داحصايوي معلوماتولپاره اساسي منبع ده .کوم چي دتصميم نيوني په خاطردمديريت له خوااستفاده کيږي
2. دمعلوماتوجمع کول : ليجردمختليفومعاملاتودګدام ياجمع کوونکوڅخه عبارت دى
3. مالي حالت وړاندي کول : ديوي تصدي مالي حالت هغه وخت معلوم ولاى شوچي دليجرحسابونه په مکمل ډول ساتل شوي وي .

### دليجرويشنه

کله چي ديوکاروباردمعاملاتوتعدادلږوى.ټول حسابونه کيداى سي چي په يوه ليجرکي ترتيب کړو.خوکله چي کاروبارپراخه شي نومعاملات هم زياتيږي چي پدي حالت کي نسوکولاى چي ټول حسابونه په يوه ليجر کي ترتيب کړونوپدي اساس دهرګروپ حسابونولپاره بيل بيل ليجرونه ترتيب کيږي چي دى بيل بيل ليجرونوته دليجرونوويشنه ويل کيږي .چي په لاندي ډول ويشل شويدي .

a) Debtors Leger : دالیجردهغوګراکانویاپوروړوحسابونه په برکي نیسي پرچاچي اجناس په پورخرڅ شوي وي .یعني په پورخرڅلاو.دي لیجرته دخرڅلاولیجر،طلباتولیجر( Account receivable Leger) هم ویل کیږي .

b) Creditors Leger : دالیجردهغوعرضه کوونکویاپوروړکوونکوحسابونه په برکي نیسي .دچاه څخه چي اجناس په پورړانیول شویوي .یعني په پورسره رانیوني .دی لیجرته درانیونولیجراودتاديي وړلیجر( Account Payable Leger) هم ویل کیږي .

c) General Leger : په دي ډول لیجرونوکي دحقیقي اواسمي حسابونواړوندټول لیجرونه شامل دي ځني وخت دالیجرونه پردووبرخوویشل کیږي .چي عبارت دي

i. Nominal Leger : دالیجردمصارفو،ضررونو،عوایدواولاسته راوړنوټول معاملات یاحسابونه په برکي نیسي .

ii. Private Leger : دالیجرټول هغه معاملات په برکي نیسي چي خصوصي ماهیت ولري یعني ځانګړي وي لکه دسرمایه ګذاري حساب ،شخصي ورداشت حساب اوسرمایي حساب

D) Cash Leger : پدي کي دنقدي لیجراوبانک لیجر حسابونه شامل دی .

## دلیجرشکل :

لیجردوه شکله لري چي یویي ( Standard Form of Leger Account ) دی اوبل یي ( Running Balance of Leger Account ) دی .

1. Standard Form of Leger Account : داحسابونه دلیجرډیرساده نمایندګي کوونکي دي چي ډیرپراخه استعمال لري دحساب په دووبرخوویشل شویدي چي راسته طرف ته يي کریډیټ طرف ویل کیږي اوچپه طرف ته يي ډبټ طرف ویل کیږي .دلیجرهرطرف عین شان ستونونه لري لکه a-Date – b- Description – c – Folio – d- Amount.

A/C Number A/c Name

| Date | Description | J.F | Debit | Date | Description | J.F | **Credit** |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- |

2. Running Balance Form of Leger Account : داډول ليجرونه په خاصه توګه دبانکونواوځينوخاصوتجارتونولپاره په کاروړل کيږي .چې ټول ليجرپرشپږوستونوويشل شويدي لکه A- Date – b- Description – c- Folio – d- Dr.Amount –e- Cr.Amount – f- balance

نمونه يي په لاندي ډول ده .

**A/C Name** **A/C Number**

| **Date** | **Description** | **Folio N** | **Dr.Amount** | **Cr.Amount** | Balance |
|---|---|---|---|---|---|

په ليجرکي دثبتوني طريقه

1- وليجرحساب ته عنوان اونمبرورکول .
2- دمشخصاتوپه ستون کي دډبټ ياکريډيټ حساب ته نوم ورکول .
3- دنيټي په ستون کي دډبټ ياکريډيټ حسابونونيټه وراچول
4- دليجرحساب په ډبټ ستون کي دژورنال دډبټ طرف څخه رانقل شوي مبلغ ليکل کيږي اودليجردحساب په کريډيټ ستون کي دژورنال دکريډيټ طرف څخه رانقل سوی مبلغ ليکل کيږي
5- دلجرحساب د( Folio ) په ستون کي دژورنال دهغي صفحي نمبرليکل کيږي دکومي صفحي څخه چي حساب يامبلغ رانقل شوي وي
6- دژورنال په ( Folio ) ستون کي دليجردحساب نمبرليکل کيږي وکوم ليجرته چي حساب يامبلغ نقل سوي وي .

مثال : احمدخيل کاروبارد۱۳۹۴کال دحمل دمياشتي په ۱۸نيټه د۴۰۰۰ افغاني په بانکي سره پيل کړ

journal Page No:7

| Date | Description | L.F | Debit | Credit |
|---|---|---|---|---|
| ۱۸ ۱۳۹۴/۱/ | **Cash A/c** | **10** | **4000** | |
| | **To Capital** | **12** | | **4000** |

Account N: Account No: 10
Cash

| Date | Description | J.F | Debit | Date | Description | L.F | Credit |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 18/1/1394 | To Capital | 7 | 4000 | | | | |

Account Account No:12
N:Capital

| Date | Description | L.F | Debit | Date | Description | L.F | Credit |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | **18/1/1394** | **By Cash** | **7** | 1400 |

**دليجرحساب توازن** : دليجرحساب توازن کول يابيلانس کول ترتيب داسي دی چي دډبټ اوکريډيټ طرفونه بايدجلاجلامجموعه شی دمجموعي وروسته دواړه طرفونه مقايسه کړی که کريډيټ طرف زيات وي دتوازن لپاره تفاوت په ډبټ طرف کي ليکل کيږي اوکه ډبټ طرف زيات وي دتوازن لپاره تفاوت په کريډيټ طرف کي ليکل کيږي .چي دبيلانس کول طريقه په لاندي ډول ده .

1- دليجردواړه طرفونه جمع کول
2- دتفاوت رايستل
3- تفاوت په هغه طرف کي ليکل چي کم وي
4- دواړه طرفونه يوځل بياجمع کول چي مجموعه يي بايدمساوي وي
5- منځ ته راغلی تفاوت ته بيلانس ويل کيږي اوپردوه ډوله دی يوکريډيټ بيلانس اوبل ډبټ بيلانس

## دژورنال اوليجراماده کونه

مثال : لاندي معاملات په ژورنال کي ثبت اوليجرته يي انتقال کړی

1- کاروبارد5000 افغاني سرمايي سره شروع شو
2- پرمحمدنسيم باندی د500 افغاني اجناس خرځ کړل سوه
3- دکاملي تصفيي وروسته دمحمدنسيم څخه 450 افغاني نقدأراورسيدي
4- د1500 افغاني په ارزښت دياقوت څخه اجناس رانيول شوه
5- دکاملي تصفيي څخه وروسته ياقوت ته 1450 افغاني نقده ورکړل شوی
6- وښاغلي حضرت الله ته د300 افغاني په ارزښت معاش ورکړل شو
7- د1000 افغانی په ارزښت ماشين الات نقده خريداري شول
8- د1300 افغاني په ارزښت اجناس په نقده خرځ کړل شوه
9- د50 افغاني په ارزښت ګټه ترلاسه شوه
10- په بانکي حساب کی د1000 افغاني په ارزښت نقدی پيسی جمع شوي
11- د100 افغاني په ارزښت مزدورکړل شو
12- دکمپني مالک دشخصي استفادي لپاره دبانک څخه 200 افغاني راويستلي

حل :

### عمومي ژورنال

| Date | Description | L.F | Debit | Credit |
|---|---|---|---|---|
| | Cash A/C | | 5000 | |
| | To Capital | | | **5000** |
| | Started business with Capital | | | |
| | M.Nasim A/C | | 500 | |
| | To sales A/C | | | **5000** |
| | Sold goods to m.Nasim | | | |
| | Cash A/C | | 450 | |
| | Discount Allowed A/C | | 50 | |
| | M.Nasim A/C | | | **500** |

| | | |
|---|---|---|
| Received cash from M.Nasim | | |
| Purchased A/C | 1500 | |
| Yaqut A/C | | **1500** |
| Purchased good from M,yaqut | | |
| Yaqut A/C | 1500 | |
| Cash A/C | | **1450** |
| Discount received | | **50** |
| Paid to yaqut in full in cash 1450 | | |
| Salary A/C | 300 | |
| Cash A/C | | **300** |
| Paid salary to Hazratullah | | |
| Machinery A/C | 1000 | |
| Cash A/C | | **1000** |
| Purchased a machinery | | |
| Cash A/C | 1300 | |
| Sales A/C | | **1300** |
| Sold good for cash | | |
| Cash A/C | 50 | |
| Interest A/C | | **50** |
| Received interest | | |
| Bank A/C | 1000 | |

| | | |
|---|---|---|
| Cash A/c | | **1000** |
| Deposited cash into Bank | | |
| Wages A/C | 100 | |
| Cash A/C | | **100** |
| Paid wages | | |
| Drawing A/C | 200 | |
| Bank A/C | | **200** |
| With Draw cash from bank for personal use | | |

A/C #-1 A/C N - cash

| Date | Description | J.F | Debit | Date | Description | J.F | Credit |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | To Capital A/C | | 5000 | | By A/C Payable | | 1450 |
| | To Nasim A/C(Receivable) | | 450 | | By Sales A/C | | 300 |
| | To Sales A/C | | 1300 | | By Machinery A/c | | 1000 |
| ؟ | | | | | | | |
| | To interest A/c | | 50 | | By Bank A/c | | 1000 |
| | | | | | By Wages A/c | | 100 |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | Balance | | 2950 |
| | Total | | 6800 | | Total | | 6800 |

A/C N- Capital A/C #- 2

| Date | Description | J.F | Debit | Date | Description | J.F | Credit |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | By Cash A/C | | 5000 |
| ؟ | Balance | | 5000 | | | | |
| | Total | | 5000 | | Total | | 5000 |

A/C N - M Nasim A/C -# 3

| Date | Description | J.F | Debit | Date | Description | J.F | Credit |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | To Sales | | 500 | | By Cash A/C | | 450 |
| ؟ | | | | | By Discount Allowed | | 50 |
| | Total | | 500 | | Total | | 500 |

A/C N – Sales A/C # - 4

| Date | Description | J.F | Debit | Date | Description | J.F | Credit |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | Mr.Nasim | | 500 |

؟

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | Balance | | 1800 | | By Cash | | 1300 |
| | Total | | 1800 | | Total | | 1800 |

A/C N –Discount Allowed A/C # -5

| Date | Description | J.F | Debit | Date | Description | J.F | Credit |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | Mr.Nasim | | 50 | | | | |
| ؟ | | | | | Balance | | 50 |
| | Total | | 50 | | Total | | 50 |

A/C N –Purchase A/C #- 6

| Date | Description | J.F | Debit | Date | Description | J.F | Credit |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | Mr.yaqut A/C | | 1500 | | | | |
| ؟ | | | | | Balance | | 1500 |
| | Total | | 1500 | | Total | | 1500 |

A/C N –yaqut A/C #-7

| Date | Description | J.F | Debit | Date | Description | J.F | Credit |
|---|---|---|---|---|---|---|---|

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | To Cash A/C | | 1450 | | By Purchase A/C | | 1500 |
| ؟ | To Discount A/C | | 50 | | | | |
| | Total | | 1500 | | Total | | 1500 |

A/C N- Discount Received A/C #-8

| Date | Description | J.F | Debit | Date | Description | J.F | Credit |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | By yaqut | | 50 |
| ؟ | Balance | | 50 | | | | |
| | Total | | 50 | | Total | | 50 |

A/C N –Salary A/C #-9

| Date | Description | J.F | Debit | Date | Description | J.F | Credit |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | To Cash A/C | | 300 | | Balance | | 300 |
| ؟ | | | | | | | |
| | Total | | 300 | | Total | | 300 |

A/C N – Machinery A/C #-10

| Date | Description | J.F | Debit | Date | Description | J.F | Credit |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | To Cash A/C | | 1000 | | Balance | | 1000 |
| ؟ | | | | | | | |
| | Total | | 1000 | | Total | | 1000 |

A/C N –Interest A/C #-11

| Date | Description | J.F | Debit | Date | Description | J.F | Credit |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | Balance | | 50 | | By Cash | | 50 |
| ؟ | | | | | | | |
| | Total | | 50 | | Total | | 50 |

A/C N –Bank A/C #-12

| Date | Description | J.F | Debit | Date | Description | J.F | Credit |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | To Cash A/C | | 1000 | | By Drawing | | 200 |
| ؟ | | | | | | | |
| | | | | | Balance | | 800 |
| | Total | | 1000 | | Total | | 1000 |

A/C N –Wages A/C #-13

| Date | Description | J.F | Debit | Date | Description | J.F | Credit |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | To Cash A/C | | 100 | | Balance | | 100 |
| ؟ | | | | | | | |
| | Total | | 100 | | Total | | 100 |

A/C N –Drawing A/C #-14

| Date | Description | J.F | Debit | Date | Description | J.F | Credit |
|---|---|---|---|---|---|---|---|

| | | | |
|---|---|---|---|
| To Bank A/C | 200 | Balance | 200 |

؟

| | |
|---|---|
| Total | Total |

# پنځم فصل

## ( ازمايښتي بيلا نس )

**ازمايښتي بيلانس (Trail Balance)**

کله چي و ليجرونو ته ټول انتقال ترسره سي ، نو وپروسي ته د دوام ورکولو ترمخه دا مهمه ده چي د ثبتوني حسابي صحيوالى معلوم کړو . ازمايښتي بيلانس يو بيان دى کوم چي په يوه مشخصه نيټه کي د ټولو حسابونو بيلانسونه ښيئ ، په بل عبارت ازمايښتي بيلانس د ليجر حسابونو داخيستل سوي کريډيټ يا ډبټ بيلانسونو د ليست څخه عبارت دى

ازمايښتي بيلانس پنځه ستونه لرونکى جدول دى چي د ټولو حسابونو نومونه او بيلانسونه پکښي درج کيږي په اخيري دوو ستونو کي د مختلفو حسابونو بيلانسونه درج کيږي . ډبټ بيلانسونه ( کله چي د ډبټ مجموعه دکريډيټ ترمجموعي ډيره شي ) په چپه ستون کي ، اوکريډيټ بيلانسونه ( کله چي دکريډيټ مجموعه د ډبټ ترمجموعي ډيره شي ) په راسته ستون کي درج کيږي د دې دواړو ستونو مجموعه بايد مساوي وي . د ازمايښتي بيلانس مختلف ستونونه عبارت دي : (i) serial Number

(iii) Ledger , (ii) Head of Account

Folio (L.F) (v) Credit Balance, and (iv) Debit Balance

| Serial Number | Head of Account | L.F | Debit Balance | Credit Balance |
|---|---|---|---|---|

## دازمايښتي بيلانس ځانګړني

۱ـ دا دټولو ليجر حسابونو اونقدي حساب دبيلانسونو ليست دی

۲- دا د کتاب ثبتوني مضاعف سيستم ندی داد کار يوه پاڼه ده

۳ ـ دا د محاسبوي دوران په جريان کي هروخت جوړيدای سي

۴ـ داد چيک او ارزيابی دنده سرته رسوي

۵ ـ د ژورنال څخه وليجر ته دمعاملاتو د انتقال دحسابي صحيوالي اطمينان راکوي

۶ ـ ازمايښتي بيلانس ځيني غلطی او نيمګړتياوی نه ښيئ

## د ازمايښتي بيلانس ګټي

ازمايښتي بيلانس دلاندي اهدافو لپاره استعماليږي

۱ ـ **د صحيوالي ثبوت** : کله چي دازمايښتي بيلانس دواړه طرفونه مساوي سي . نو دا پدې مانا دی چي د ټولو معاملاتو ډبټ او کريډيټ په صحيح ډول سوی او د ليجر حسابونو توازن يا بيلانس په صحيح ډول ترسره سوی .

۲ ـ **دغلطيو يا نيمګړتياوو دمنځه وړل** : کله چي د ازمايښتي بيلانس ډبټ او کريډيټ طرفونه مساوي نسي نودا پدې مانا دی چي په ژورنال يا ليجر کي ځيني نيمګړتياوي او غلطی موجودي دي مجاسب کولای سي دګټي او تاوان حساب او توازون پاڼي ترمخه دغه غلطۍ پيدا کړي او صحيح يې کړي .

۳ – **د نهايي حسابونو جوړول** : د ازمايښتي بيلانس څخه دګټي او تاوان حساب او توازن پاڼه جوړيږي .

## دازمايښتي بيلانس محدوديتونه

دا مهمه نده چي ازمايښتي بيلانس دي دمحاسبۍ ټولي غلطی او نيمګړتياوي په ګوته کړي ، ځکه چي ازمايښتي بيلانس د محاسبۍ ځيني غلطی يا نيمګړتياوي نسي معلومولای چي دغه غلطی يا نيمګړتياړي په لاندي ډول دي

۱ – **دحذف کولو غلطی** : که چیري یوه معامله هیڅ ونه لیکل سي اویا هم هیره سي نو دی غلطی ته دحذف کولو غلطی ویل کیږي  مثال : که چیري پر قسیم باندي د ۱۰۰ افغانی په ارزښت اجناس په پور خرڅ کړل سي ، خو لیکن دا معامله هیڅ ونه لیکل سي اویا هم پاته سي نو دا پر ازمایښتي بیلانس باندي هیڅ تاثیر نه لري ، خو لیکن دنهایي حسابونو نتیجه به صحیح نه وي .

۲ ـ **دتبدیلی غلطی :** که چیري یو حساب دبل حساب پرځای ډبټ او یا کریډیټ شي  دی ته دتبدیلی غلطي ویل کیږي . چي دا ازمایښتي بیلانس نه متاثیره کوي لیکن مجموعي نتیجي به صحیح نه وي د مثال په توګه : که چیري اجناس د ۱۰۰ افغانیو په ارزښت پر قسیم په پور خرڅ کړل سي خو لیکن دقسیم پرځای دجمیل حساب ډبټ سي .  نو دا غلطی ازمایښتي بیلانس نسي نیولای .

۳ ـ **اصولي یا قانوني غلطی** : دا هغه غلطی دي چي ځیني وخت داصولو یا قوانینو څخه دانکار په وخت کي رامنځته کیږي مثال : دسرمایوي اوعایداتي لګښتونوترمنځ تفاوت په نظر کي نه نیول اویا هم که چیري یوه فابریکه نسب کیږي نو دنسبولو مزد دفابریکي دحساب پرځای د مزد په حساب کي ثبت کیږي  چي دا غلطی پر ازمایښتي بیلانس هیڅ تاثیر نه لري خوپه نهایي نتیجه کي غلطي راولي .

